# رجړومه

www.libtool.com.cn

گوهر رحمن گوهر

www.libtool.com.cn

# رجړومه

غـوږ زما په نعـرو چیـغـو خلکه مـه ږدئ

لیـونی یمـه له ځـان سـره لګیـا یم

PROPERTY OF ACKU
7599

PROPERTY OF ARIC
Established 1989

ګوهر رحمن ګوهر

# د کتاب پېژندنه

www.libtool.com.cn

د کتاب نوم : رجهومه

شاعر : گوهر رحمن گوهر

خپرندوی : د ناهید کتاب خپرولو مؤسسه

د خپرونو نومره : ۱٤

د خپریدو نیټه : چنگاښ ۱۳۷۷ - جولای ۱۹۹۸ ع

چاپ ځای : دانش کتابخانه پیښور

مهتمم : پیر محمد کاروان

د کمپوټر سمبالوونکي : ایمل سنګریار او محمد ابراهیم «امیری»

تیراژ : ۵۰۰

www.libtool.com.cn

## اهداء :

دعنایت الله گل په نوم چې زما په اوښکو کښې شریک، زما د ویجاړ وشپو اسره او زما د خوږ ژوند تکور پاتې شوی دی.

www.libtool.com.cn

بسم الله الرحمن الرحيم

www.libtool.com.cn

□

مړاوي دې په سترګو کښې دمينې داډيوې مه شه
ستاخندنی سترګې په ژړاچرې لوندې مه شه
اوردبيلتانه ديرچنارونه لمبه کړي دي
پورې په اوربل دبيلتانه دې سرې لمبې مه شه
ته خواږه خوبونه په پالنګ دبې غمی کوه
چرې په نصيب کې دې زړه چاودې شوګيرې مه شه
ښايي چې لاسونه په نکريزو دې لړلي وي
هيچرې سرې دې دځوانی دتال جوتې مه شه
زه يوازې ديريم ستا غمونو ستا دردونو ته
زه چې يم ژوندی غمونه تا ته درنژدې مه شه
داليونی مينه ده ځما چې راته وايي دا
خوږداښکلی تن دې دسپوږمی په پلوشې مه شه

www.libtool.com.cn

بې ستا دیادونو مې سودا نه شته

بې داستا مې بله مدعا نه شته

سترگې مې داستا په لورنیولې دي

مالره څه بله مشغولا نه شته

ماله که دنیا ده خوستا مینه ده

تیره ستا د مینې نه دنیا نه شته

زه داستا دمخ په رڼا گرځمه

ستا دمخ نه وړاندې څه رڼا نه شته

اوردې په هغو گلونو پورې شي

چرته ستا نرۍ نرۍ خندا نه شته

زه به ستا په مینه ځان تالاکړمه

مانه لیونی گورې سیوا نه شته

www.libtool.com.cn

□

زه به ستا له مینې نه په شانه شم
ستا که نه شوم زه به د بل چا نه شم
ما د پښتنې که پی رودلې وي
واوره! زه به چرې بې وفا نه شم
مینه چې څوک کړي سر په تلي کې وړي
زه په سربازۍ به وارخطا نه شم
بیا مې د خزو په سر توکه لاړي
تینګ که په وعدې خپلې رښتیا نه شم
ته به اشارت د بڼو لاندې کړي
دا به که لوشې زه به رانه شم
مینه که ګوهره قرباني غواړي
زه به په خپل سرومال *اړیانه شم

www.libtool.com.cn

□

زه خــودې پوورم په کــتــو کــتــو کــښېــې
داځــه قــيــامت وســتــاپه يو ليــدوکــښې
مــاله دي راکــړي شــوګــيــري ته لاړې
سترګـې مې ګـرځي په کوځـو کوځـو کـښې
دسـپـورمـۍ مخ باندې راښکـمـه کـرښې
زړه غـولومـه دې پوازې شـپـوکـښې
داســې ګـــنم چې ســتـــاښکالو ده چرته
ځــمــادســاه بې کــوره تلو راتلو کــښې
ډېې مــې کټ کــې داســې څــړيکي وهي
لکه بانــده وي دبنــوبرچوکــښې
دازړه مــې مــورشــو ددنيــا پـه خــورو
څـه خـويه وي داســتـا دمخ خــوروکــښې

www.libtool.com.cn

□

څانګې داستا لاغلي غلي کاته
خوږل کوي داشرميدلي کاته
دغه خوليت دميني زړه کښي لګي
خواږه خواږه حيالړلي کاته
لکه رګ رګ چې مې نشه نشه وي
اُف! په شرابو اغړلي کاته
لکه دنياواړه سپرلي شوخاندي
ګورم چې ستادامو سيدلي کاته
لکه چې لاس مې په زړګي لګوي
هي! داپه ستر ګوراتومبلي کاته
لکه بخري چې داور رانښلي
څماپه مخ راغوړيدلي کاته

www.libtool.com.cn

□

فـرښتـــې خـاندي سـتــا دمخ ډیووکـــښــې

سـپـــوږمــی دې رپي دحـــیـاخـــولوکـــښــې

وایم چې ښکل مـــې دقـــدرت گـــوتې کــړای

رنـگ یې تمام کـــړ ستــــادمخ خـــوږوکـــښــې

دادنښـــــوانجـــام غــــړی کــــتــــوری

ارمـان چې دوب وی پدې سـتـرگـو سـروکـښــې

سـتـــادخـــوانی * هـوارخــه داســې خـــوږدی

خـــواږه به څـــه وي دجنت پیـــالوکـــښــې

چې دقـــیـــامت شـــپـــیلی مـــې پانه څـــوي

داسې اوده شـــوی سـتـــادزلفـــوشـــپــوکـــښــې

ژوندته لمســــــیــرمــــه چې تاته گــــــورم

دژوندبلنه ده داســـتـــاکـــتـــوکـــښــې

www.libtool.com.cn

□

پښې مې شوې تناکې دخيالونو په ليلاپسې
هيڅ نه يم خبرچې چانهومه خاورې چاپسې ؟
کلي، په کوڅوکښې ،په ميروکښې ،په ښارونو کښې
ورک يمه سرگومه دزړگي بې نوم سوداپسې
هره يوه خانگه چې ښکاره شي وايم داده جوړ
هرې يوې نه تيرشم وړاندې نورلاړشم رابيا پسې
نخښې راته نه ښکاري په هيڅا کښې دزړه دسود
گرځم په لټون کښې دارمان ورکې دنيا پسې
داسې پښتنه به چيرته وي چې پلولرې کړي ؟!
زه ناځاپه چيغه کړم « زه گرځمه هم تاپسې »

www.libtool.com.cn

□

زه لټومه ننګيالی پښتنه
د خپلې مينې د نياګی پښتنه
په تصور کښې مې تصوير جوړوي
لا به راځي دادرخانی پښتنه
د هغې مخ پسې هر مخ ته ګورم
نه شته لا نه شته ليونی پښتنه
هغه به چيرته وي داويلی نه شم
وي به ضرور دا ملالی پښتنه
چيرته ګوټ پېر کښې به د لار تاوېږم
چې لاس به راکړي ګلونی پښتنه

www.libtool.com.cn

□

زړه مې په دنیا کښې ځانګې نه دی پر هیڅا پیرزو

پیغلې پښتنې کـه مې پیـرزودی نو پر تا پیـرزو

داسـوی ژوندون زمـا اوداخـاورې ځـواني زمـا

تاتـه چې یې سـپـارمـه راځې زمـا پـه دا پیـرزو

هغه ورځ دې رانه شي چې ستا سترګې نمجنې شي

ځـانګې ده پر تامـې دسـپـرلو واړه خندا پیـرزو

ته مې په دې تولـه دنیـاګۍ کـښې غـوره کړې یې

ځکه چې پر ځان باندې مې ده پښتـو حیـا پیـرزو

زړه چې مې دډیرې خوشحالۍ نـه چیـرته ونه چوي

تاچې دنګرېزو سـره لاسـونـه کـړل پرمـا پیـرزو

www.libtool.com.cn

□

بې نومه څرېکې چې سودا نه شي
اورپه زړګي کښېـ مې* دُکیا نه شي
سترګې چاپيره زما سترګې لټيْ
چيرته دمه په سترګوستا نه شي
بانه ځنبل تېتېول بيا نيغول
پيغلې !ادميني ابتدانه شي!
ماچې دزړه دسودرابيا لټوله
چيرته زړګى مې سودپه تا نه شي
ستادي لندښان ملاقات يادونه
زما دعمرمشغولانه شي!

*لوګيدل

www.libtool.com.cn

□

ته دې بانه پورته که دستوروپلوشې څه دي!

ته ستر ګې راوړو دشرابو پيمانې څه دي!

اوردې دی رانښتی راپورې اوستي کيږمه

داخماري سترګې اوپکښې بلوې لمبې څه دي؟

نورې خلقي په څه پوهيږې چې تا څه ووې

زه په بس رسيږم ستا دسترګو اشارې څه دي

ستا دادواړه سترګې چې راتيټې مې پرسترګو شي

زه يې نه منم چې دنصيب بلې ډيوې څه دي

لږې خودې خپلې سترګې وګوره خوږل کوي

ماته دې نيولي دې ګولی ستاارادې څه دي؟

www.libtool.com.cn

□

مخ دچالیدلی مې په ستر گو کښې غړیږي

نه یې پېژنمه خو پر زړه مې راوریږي

درنګ ساعت لیده لکه د تندر پریوته چې و

زړه لکه دپاڼې لاتر اوسه مې رپیږي

نه يې نوم راځي نه مې تپوس ترینه څه کړی دی

نه یمه خبر چیر ته په کوم چم کښې اوسیږي

نه یې راته ووې چې به راشم یا به رانه شم

دامې دی باورچې خامخا به راستنیږي

لږه شوه موسکی تیتو بڼو کښې یې سلام وکړ

دغه اخري کاته یې اوس هم رایادیږي

www.libtool.com.cn

□

ستـــــرګـــــې راوړو چې د يـوې بلـې شي
زمـــا دزړه دســـرتيـــاري غـــوټــــې شي
لړه مــــوسکی شـــه چې خــــپـــه نه يې ته
چې له خـــاطرمــــې وســـوســـې لرې شي
زمـــا په ســـتـــرګـــو کـــښې ژور وګــوره
زمــــا دلـورچې دې ګـــيـلې ورکــــې شي
لاس کــړه راوړاندې اوراځـــه په مـــخکښې
چې دادمـــيـنې فـــاصلې کـــمــــې شي
تامـــاســـره لاوخت تيــــرکـــړی څـــه دی
ستـــابه زمـــا خـــبـرې ښـــې خـــوښـــې شي

www.libtool.com.cn

□

که د مطلب تکی په خوله نه وايي
زه د زړګي دې پټه غلا پيژنم
د درنګ شيبې دا ناځاپي ملاقات
لکه مودوراسې چې تا پيژنم
دا ښکلې سترګې دو که نه شي ګوی
تازه دا تانه نن سيوا پيژنم
ته د دنيانه يې بدله ډيره
ځانګې زه دا تهوله دنيا پيژنم
دا به ډيوه زما د بخت بلوي
ستا په تندي خوره رڼا پيژنم

www.libtool.com.cn

□

سترګي د ډيرو به رابيا ته ګوري

خو هغه ګوري خپل آشنا ته ګوري

هسي تول خلک د نظرو باسي

چې سمي سم شي نو يو خوا ته ګوري

د مينځ له حاله ساده ګان څه خبر

په زړه کښې خاندي دې دنيا ته ګوري

چې د کتو په فرق نه پوهيږي

هر سړی وايي جوړي ما ته ګوري

د چا کتل يا ناکتل څه کوي

پښتنه تل خپلې حيا ته ګوري

www.libtool.com.cn

□

ته چې د بنـــــولاندې په غــــــلاگـــــورې
دا په ناشنایۍ کــــې څـــه آشنا گـــورې
زه چې درته نـه گـــــورمـــــه گـــورې تـه
زه چې درته مخ کـــړمـــه بل خـــواگــــورې
گـــرځې دې ســـرخـــې په مخ نرۍ نرۍ
زه دې لگم څـــه چې په حـــيـــا گـــورې ؟
مــــينه کــــه دانه ده نونورڅـــه دي دا !
چارچاپیـــــره گـــورې وارخطا گـــــورې
ســـتـــا داناغــــرضـــه ناغـــرض کـــتل
خـــدایيگو دکـــتـــو نه هم ســـيـــواگــــورې
ستاسترگو کښې نخښې څه داشاني دي
خلق په رســــيــــبرې چې ته مـــاگــــورې
دغـــه ليـــونتـــوب خـــوخـــبـــروي عـــالم
کـــورپله روانه يې په شــــاگـــــورې

www.libtool.com.cn

□

ستا مړاوي مړاوي داډيوي سترګې
لکه چې پرانزي فتني سترګې
لکه دنري پښتني کتودې
ځانګې زما کړلې مړې سترګې
سترګې مې پټې دجهانه کړلې
چې مې په تاشولې خوږې سترګې
ماپکښې خپلې سترګې وليدلې
دومره شوې ماته رانژدې سترګې
خلک په سروسترګو ګومان کوي ستا
سترګې دې دادشو ګيرې سترګې
سرپر اوږه زما قلاره کيږده
مه غړوه اودې اودې سترګې
جامونه ټول مې کړل دپښو دلاندې
ښکل مې کړې څه نشې نشې سترګې

www.libtool.com.cn

□

ستـرګې دې وايي راته داسې چې آشنا يې جوړې
زمـــادمـــينې دزړونخـــښـــودنيـــايې جـــوړې
مـاته رايادې شـوې قـيـصـې چې ته مـې وليـدلې
هاغـــه خنداهاغـــه حـيـــازمـــا لـيـــلايې جـوړې
زمـــادزړه په پرهـرونوكـــښـــې لمبـــې پورته شـــوې
ذره ذره مـــــې دوجـــــودوايي زمـــــايې جـــــوړې
لړمـــې نژدې پريږده په څـــيـــرچې درته وګـــورمـــه
زمـــادمـــينې دروژويوروڼ ســـبـــايې جـــوړې
مـــــالتـهـــولې لتـهـــولې چې خـــداى راوســـتلې
زمـــادګلودســـپـــرلوورکـــه خندايې جـــوړې
پښـومې قسم وخوړچې مـخكښې به قدم لاړنه شم
زمـــادمـــينې ســـرمنزل اومـــدعـــايې جـــوړې

www.libtool.com.cn

□

زه پرکـــاله پروت وم خلق وايي ته راغلې وې
خـوا ته زمـا ناسـتـه وې په پتمه ژړېدلې وې
ستا په زړه کښې څه عجب خيالونه ګرځېدلي وو
خوله کـښې د پلو و بې اختـيـاره بوږنيـدلې وې
مـا په بې سُرى کـښې چې له تاسره خبرې کړې
ته به د خپـل نوم په اوريدو خـوشـرمـيـدلې وې
ته جـوړې د مـينې په يادونو ډوبه شـوې وې
سـتـرګې دې زمـا په لورنيـولې خـوبولې وې
لاس دې پرتندي زما کيښودی وچې نه ووڅوک
خلک چې بيـا راغی په زړه مـاتې پاڅـيـدلې وې

www.libtool.com.cn

□

تاچې موسکی سترګې په خندارا اړولې دي

زړه کښې دې زما ناستې لمبې بیا تخنولې دي

*ک دکوڅې لرې کړه یوڅو قدمه پورته کړه

مه وار خطا کیږه کوڅې واړه غلې غلې دي

دې سپینې سپوږمی کښې را ته وایه چې داخوب وینم

یا ماسره خواکښې رښتیا سترګې خوبولې دي

ستا خیالونه شو نړوله چې راشي په رپاشي تول

دغه رپ رپي کښې ما خبرې ستالوستلې دي

زړه کښې مې را پورته شه احساس چې ته مې خپله کړې

اوښکې مې دسترګو غټې غټې بهیدلې دي

*د پلوسي ښانګه چې کوڅه کښې دسپود مخنیوي له

پاره کیښودی شي.

www.libtool.com.cn

□

چیــرته بهــرمــې له اخــتــیــاره دزړه څــریکې نه شي

په چم ګــاونډکښـې مـې خـوري لیـونی کـریکې نه شي

مــــاله دمـــــیني په دعـــــوو باندې یقـــــین نه راځي

څوچې سرې اوښکې مې په اوښکو کښې شریکې نه شي

ستــادې دوه ستــرګـوډیوې چې کوي داسې شغلې

زمـــادمـــــینې رنګینه شـــــپې به تاریکې نه شي

ســتـــادسـروشـونډوسـره ګلونه چې *انولي مـې دي

دزړګي سـود مـې په ګلونو دسپـــرلي کــې نه شي

*تولول

www.libtool.com.cn

□

پټ مې په اوربل کښې دژوندون واړه غمونه کړه

يو به سي سيلۍ مې درنه تاورانه لاسونه کړه

مابې دسروتيکو دداغونوڅخه ونه ليدل

راشه لږ تيکورمې دژوندسوي ارمانونه کړه

توره نيمه شپه ده اوپړونې پرمخ راکاږه

راشه رابياګۍ شريک له مادي تهمتونه کړه

زه اوته تړلي يوعالمو ديوبل سره

راشه نن توکل وکړه رښتيادا پيغورونه کړه

سرمې په پولۍ پولۍ سينه باندي لږ ولګو

نن دهميشه لپاره غلي دادردونه کړه

سترګې مې د سترګو سره پرېږده چې خبرې کړی

www.libtool.com.cn

شوندې رانژدې کړه او يو ځای دا پر هر ونه کړه

راشه پرننګونو * دا م شوې ننګيالی زما !

ګډمې په نصيب کښې د نکريزو سره رنګونه کړه

* جوړه شوې

PROPERTY OF ACKU 7599

www.libtool.com.cn

□

ستــــا د بنـــو څـــوکـــې مـــې په مخ کـــې غـــړیدلي دي

سترګې مې د اخپلې ستا په سترګو کښې لیدلي دي

تاچې د بیلتـــون په شـــپـــه خبـــرې کـړې د ځــــان ســره

مـــــــاتـــه په رنځـــــــولـــړلي مخ واړه ویلــې دي

ته چې د همځولو په ټولي کښې *صلوې ساوې شوې

ستـــا د مخ سوروالي کــښې قـــیـــصې ټولو لوستلي دي

ستـــا په چپـــو شـــونډو پوهـیـــدمـــه چې د اڅـــه وایې

مـــا ته دې دســـتـــرګـــو اشـــارې رارســـیـــدلي دي

مـــا اوتا شـــوګـــیـــرچې د اختـــرپه لویه شـــپـــه کـــاوه

ستـــــاد لاس نکریزې په پالنګ مـــې ریژیدلي دي

*غلي غلي

www.libtool.com.cn

□

تا ته مې کتلو د درشل تر اخري قدم
ته په ترورمې کښې د ما بنام رانه جدا شولې
فکرومه وړی چې زه وینښ یم که اوده یمه
خلک تول گوریږي داسې اورم چې زما شولې
یادبه دې وي مادرته په غوږ کښې څه ویلي و
ستا پرمخ زرغونې چې بیا پانې دلالا شولې
ستا دحیاډکو سترگو روح مې جرقولی و
غابنو کښې پیڅکې له بُتکې نیمه په شا شولې
ما خو په دروغه درته ویلې وچې ورانه ده
ته څومره ساده وې ،وته گوره په رښتیا شولې
نره پښتنه وې سترگه چانه سوځیده دې نه
پت دوپاللو عقوبت دخپل آشنا شولې

www.libtool.com.cn

ستا په کږو کتو پایېږمه زه

څه په ازغو لشو پایېږمه زه

بانه دې نیغ زما دزړه نه وځي

په دې کُندو غشو پایېږمه زه

ستا په بنګړو کښې دې ژوندی سندري

پدې نغمو نغمو پایېږمه زه

ستا دځوانی په مست هوا راخښلی

پدې خوږو نشو پایېږمه زه

په توره شپه په ګوروزلفو کښې ورک

په دې تیارو تیارو پایېږمه زه

www.libtool.com.cn

ستاله سروسترگو* بردمي دشرابو پيماني دي
په تيندكو ،تپكونولگيدلي زماني دي
داچي زه دي ښكلي مخ ته ليوني ليوني گورم
ستادمخ په سروكښي مونتي مي زړه پوري نښاني دي
كله گورم ناغرضه ،كله گورم په بل لوري
دامي واړ ستاديدن ته جوړي كړي بهاني دي
په كتو كتو مي اوښكي دپيرزوني پرمخ راغلي
دامي ستادمخ زيارت له ساتلي شكراني دي
ستادسرونكريزو لاس مي هم په لاس كښي دى نيولي
خوباورمي نه راځي لا ،وايم خوب دي افساني دي

www.libtool.com.cn

□

ځانته چارابنکلی په رنګینه لوپټه یمه

یم بلې دنیاکښې نه په ورځې نه په شپه یمه

سترګې دخارومې په عمرونوکښې ښکل کړې دي

نه یمه په واک کښې څه افت نشه نشه یمه

داسې هواګیریم چې مې پښه په ځمکه نه لګي

زه دچاپه سترګوکښې روان یمه غوېه یمه

سرچې مې یوځلې پرڅنګلله دچاایښی دی

زړه مې په قلاردی له غمونو په دمه یمه

زه دمرګ په سترګو کښې اوس ښه په برق خندلی شم

زه پرځپلې مینې پښتنې دومره ډاډه یمه

www.libtool.com.cn

□

پريږده چې د سرو سترګو شراب دې راڅښېږي

سوې کنډولې چې مې د سترګو خړوبېږي

زه داستا په سترګو کښې نن وايم چې لاهو شولې

پريږده چې بانه مې له بڼو سره جنګېږي

مه ځنبوه سترګې چې خواږه دديدن کم نه شي

ما باندې يوه ځمبا درنه ډېره تېرېږي

سترګو کښې دې وايه چې په زړه باندې دې هرڅه وي

داسې شپه چې راشي ژبه ګونګه پاتې کېږي

نن هر لحظه وايم چې نقش مې په ذهن کړاى

داد پيغلتوب لحظې بيا کله راستنېږي

www.libtool.com.cn

□

بانه دې تېښ شو سلامونه کوي
خوږه خوږه کښې ګوزارونه کوي
په تصور کښې دې داڅوک ګرځي
سرخي په مخ دې حجابونه کوي
زما په سترګو کښې ځواب ولتهو
شونډې دې رېږي تپوسونه کوي
ستا د موسکا بخري شور اپوري
دزړګي څړيکې مې اورونه کوي
دخولې قسم ته څه حاجت پاتې دی
سترګي په سترګو قسمونه کوي
ته په نکريزو سرې منګولې راکړه
پښتني دغسي لوظونه کوي
شراب د مينې دې نشه کړګوهر
په ويښه ويښه اوس خوبونه کوي

www.libtool.com.cn

ستاله تصوره شوګيري زما خوږې شي
توره تياره لاړه شي يادونه دې ډيوې شي
زه چې په خيالونو کښې دې سربېر ياد کړمه
تاورانه چاپيره د سپرلو يخې وږمې شي
چېرته په کوڅه کښې چې پړونى وځليږى ستا
ډکې د سپوږمۍ د پلوشو واړه کوڅې شي
زه چې د سپرلو د زيړو ګلونو نداره کړمه
ذهن کښې خورې مې ستا رنګينې لوپټې شي
غوړولو ناري د تورانکي چې را ورسي
ډوب په تصورشم ستر ګې ځانله مې لوندې شي
ته چې ځوراغلې نه يې ځومره ګيله من يمه
ته چې مخامخ شې هيرې واړه مې ګيلې شي
ستا په يوليدو کښې د دنيا واړه خواږه دي
سترګې د ګوهر له اماني د نيا مړې شي

www.libtool.com.cn

ستالوپټه نن د بلې نه آوازونه کوي

بنګړي دې شړنګ کښې څه د مینې سلامونه کوي

داسې ښکاریږي لکه مینه چې زما زنګوي

غبرګې کوڅې دې په دیوال داسې تالونه کوي

ماته هم ګورې خوځه داسې خوبولي غوندې

لکه چې سترګې د سباورځې خوبونه کوي

په رپندي د احساساتو دې زه ورسیدم

ستا چوپې شونډې دوباره زاړه لوظونه کوي

بانه دې ټیټ شي په حیا کښې کله بیا نیغ شي

حیا دې غشي تیروي او ګوزارونه کوي

ټول قضا شوي دیدنونه مې راوګرځول

سترګې مې ستا پر مخ ولاړې دي لمونځونه

www.libtool.com.cn

□

غوږو کښې مې بیا نرۍ شپېلۍ لګي
سترګې چې په سترګو مې نن ستا لګي
وایم چې مودو نه مې لیدلې یې
مخ دې پر ما داسې نن آشنا لګي
ستا مخ وسکا دوخت رنګونه نور کړلو
ما ته دا دنیا بله دنیا لګي
ته چې مې دکله نه لیدلې یې
زړه بیا ندې زما رڼا لګي
ته چې داسې ګوري په خوږو، خوږو
خدایګو چې ګوهر دې څه رښتیا لګي

www.libtool.com.cn

□

وام چې ستا دسترګو په بردم کاسو کښېږي ورک شوی

بیا په خود کښې رانه شم یوځل نشو کښېږي ورک شوی

واړه ګرد شونه ددوران په تېپه ودریږي

ستا دخیالولې په خوږو کتو کښېږي ورک شوی

ژوند کښې مې یوځلې انتها دمینې ولیدای

څاڅکي مې داوښکو ستا کړو بڼو کښېږي ورک شوی

واړه ستومانې به دژوندوني زما وریږي

سرمې ستا پرلیچه داوربل تیاروکښېږي ورک شوی

داخه لیونتوب دی چې په زړه کښې زما لیت لګی

وام لکه موسکاچې ستا پرشونډو سروکښېږي ورک شوی

www.libtool.com.cn

سترگې مې له مخه ستا شوکیږي نه

څه چې کیدل وشو نور څه کیږي نه

دا شراب د سرو سترگو میرمنې دي

زړه ته ورپریوتې دي کوزیږي نه

دا کوڅه منزل زما د مینې شو

دا قدم راغلی وروستو کیږي نه

ستا په اوره سترگې مې چې پټې شوې

اوس د چا پرمخ باندې غړیږي نه

بد مې په گستاخو سترگو مه گڼه

دا د دیدن وږې دي مړیږي نه

www.libtool.com.cn

ستا ملاقاتونه پساتونه شو
غلي غلي خبريکي نن اورونه شو
هاغه دحيا اوترا اوتر کاته
نن دپښتني ميني لوظونه شو
ته چرته روانه وې اوزه چرته
نن په يوه لاره منزلونه شو
اوښکي شوې شريکي دړدشريک شولو
ډوب په يوتړقاري کښي دوه زړونه شو
تاچې مني له څته ليچي تاوکړلي
ماته دژوندون اسان غمونه شو

www.libtool.com.cn

□

په وت کښې د پرونې يې چشمان راواړول

شراب يې هم نوستل اوهم يې غشي ورول

خواره کاته يې څه ووچې لمبو ژبه کوله

زما په قلارزړه کښې يې اورونه تخنول

دسروشونډو موسكا زما دمينې سرنامه شوه

سورگلي مې په لاروکښې له پښونه تاويدل

حيا يې گونگه ژبه کښې پرمخ وينا کوله

زړگي مې ارمانونه پردې مخ ديره کول

زما دمخ تودو خولوکولوتپوسونه

هغې په تيتوسترگو ځوابونه راکول

www.libtool.com.cn

ښه پوهیږمه چې مینه تاواني ده
خوبې مینې چې شي څه خوشي ځواني ده

زما تنده ستا د سروشونډو لیواله
دنیا ټوله د شرابو ارماني ده

تاچې زلفې مې ببرې په اوږو کړې
زما وتې د ژوند ټوله ستوماني ده

ستا په سترګو کښې به نخښې څه ضرور وي
دنیا ګوري پر ما ټوله ګوماني ده

چې دې سترګې کړې ستونه د شرابو
په وکښلې توبه بیا مې پښېماني ده

www.libtool.com.cn

□

دا خو دي منم چي چا ته نه گوري
چل څه دی چي خپل آشنا ته نه گوري
ښه په دي خبريې چي دلي يمه
بيا هم ناغرضه ما ته نه گوري
پريده چي زما دزړه رضا څه ده
نن خو دخپل زړه رضا ته نه گوري
خلک زما سترگوکي هم تالتي
ته يي ورکه ورکه شاته نه گوري
سترگي دي په يو تکي ولاړي دي
بُت خو نه يي ؟ ابلي خوا ته نه گوري
يوځل په دي ډک محفل کښي وگوره
خيردی که بيا چري راته نه گوري

www.libtool.com.cn

زړه په ټول محفل کښې بس يو تا وينم
نه يې وينمه داسې دا دنيا وينم
زړا وته چې ناست لکه يوازې يو
ستا نه سيوا سيورى خواوشا وينم
مخ که اړومه تياره کيږي بيا
ستا سترګوته ګورم نورڼا وينم
واړه خلقې لکه پردى چې وي
پېنده کښې يو تا آشنا وينم
څه شو که په دې محفل کښې ناسته يې
تازه له دې ټولو نه جدا وينم
ستا زما اروا لکه خبرې کړي
ستا په مخ د خپل زړګي ترڅا وينم

www.libtool.com.cn

□

په ټوکو ټوکو شوه رښتیا خبره

گرځي چاپیره زمنا ستا خبره

زمانامه اوستا نامه یوځای شوه

چابه گنیله داسي داخبره

نن لکه لمرهسي ډاگي خبره

اوپرون خومره وه دغلا خبره

چي نه زما اونه ستا خولي له راتله

نن لکه وي چي دهرچاخبره

مادرته ویلي به ووچي خه مي لگي

دخولي مي اخلي ستاحیاخبره

www.libtool.com.cn

ستا کاته غزل د مینې جوړوي
د حیا خولې یې ماته اوروي
یو نظر دې کې پیالې د شراب راکړي
بل نظر مې لکه پښې راتینگوي
یو نظر لکه سُنبو باندې پیل کړي
بل نظر مې پرزړه پهې لگوي
یو نظر مې له خپل ژوند ځینې وباسي
بل نظر مې په خپل ژوند شریکوي
یو نظر لکه چې پاڼې پاڼې توی کړم
بل نظر مې په بڼو راټولوي

www.libtool.com.cn

□

غلې غلې راته ګـــوري دچاســـــتــــرګــــې
په حـــملو حـــملو راکـــاږي زمـــا ســـتـــرګــــې
جـــوړوونکي دنيــــا تـولـه غـــونډه کــــړي
جـوړې کـړې لـه هغــې يې دي سـتـــا ســتـرګـې
خلـقـــــې به راتـه ګـــوري ښــــه پوهيـــږم
خـــوزه نه وينمـــه نورې ســـيــــواســتــرګـــې
زمـا سـتـرګې سـتـا په سـتـرګـو کـې شـوې ورکـې
سـتـاداسـتـرګـې دي زمـا اوکـه سـتـا سـتـرګـې
خـپلې سـتـرګـې مې دي هيـرې سـتـا مـې يادې
زمـا سـتـرګـوکـښې کـرلې دي تاسـتـرګـې

www.libtool.com.cn

□

داستـــرگـــي زمـــا دارمـــانونو غـــزلونه دي
داخـــواږه دمخ زمـــا پيـــرزو زمـــا ســـودونه دي
دغه سورکی شونډي لکه رنګ مـي دجذباتو وي
داخـــواږه کـــاته بس دلاســـه اوتـکورونه دي
دانرى تـکور چي دبنګړو مي ډوب په غيږ کښي دی
دازمـــا ګـــډا زمـــا مـــســـتي اوســـرودونه دي
داريندی شـونډي چي نه ويلو کـښـي هرڅـه وايي
دادمـــيـنـي واړه تپـــوســـونه ځـــوابونه دي
داپښـتني سترګي په حيـا حيـا چي تيـتي شوي
داپورته کـــيـدل دپښـــتنـي مـــيـنـي لوظونه دي

www.libtool.com.cn

□

سپوږمۍ ده شومه دم دی اولیلاپه خوب اوده ده
حـــیـــایې په رخـســـارودې یوې بله لمبـــه ده
د یوپلوشـې بله مخکې کـیبږي چې یې ښکل کړي
داښکلې خــوبولې ښــره څــه افت خــوږه ده
بې کـوره یې شي ساه کله بوگنیـږي کله توپ کړي
چې چیـرته دخـیـالونو په تال تلې پـه جـوته ده ؟
شـغلې یې له تندې څې دخـوایخـې مـړې مـینې
تـه وایې بـه چې خــــتـلې دجنت پـه منـاره ده
قـدرت پکښې لیدلی شي خپل مخ اوویاړیدی شي
دامخ دپښــتـنې !دفــرښــتـــو دمخ آینه ده
ژوندي دي اخــــتــــرونه اوتالـونه لاتـاوده دي
داسره منگوله هغسې نکریزو کښې خوشته ده

www.libtool.com.cn

ښکاري چې په ګوتوی جوړه کړې يې
بيا يې له آسمان راکوزه کړې يې
دا د مخ کاسه او اندامونه دا
دا د کومې خاورې يې روغه کړې يې
ايښې يې قلم دی تانه پس جوړې
ته يې آخري ځل جوړه کړې يې
تا باندې خوارې دي د قدرت تمام
وی! چې ته يې څومره خوږه کړې يې
زار شمه د خپلو سترګو زار شمه
ته يې چې عالم کښې خوښه کړې يې

www.libtool.com.cn

□

ته راغلې محفل ته څه چې ګل واړه ډېوې شولې
غلې شوې خبرې سترګې ټولې تا پسې شولې
ستا راتلو سره واړه محفل پربله واوښته
خلک داسې وړ قيدته وايې زلزلې شولې
هغه چې يې ځان ته څه ويل نو رنګ يې والوته
ځان ته چې غاوره وي اوس ستا په تماشې شولې
هسې *خوباسې وي، ستومانې وي اوجونې شولې
ستا نامه خوره شوه اوخبرې بيا خورې شولې
ځنګه يې اريان اريان کتلو مونږه دواړو ته
ته لکه دنرې پښتنې چې رانژدې شولې

*غځونې

www.libtool.com.cn

□

هغسې نيمګړي لا جامونه دي

تاو کښې لا د ټول عمر تاوونه دي

مه ځه له محفله تلوار مه کوه

ستا راتلو سره واړه خوندونه دي

سرې شرابي سترګې بيا راواړوه

ماخو څانګې څښلي څو ګوټونه دي

لاس مې په اوږه پريږده چې پرې نه وځم

سُر کښې نه يم لرې ديوالونه دي

ستا د سُرکو شونډو اوږمې اوپکه

نن مې تيندکونه ثوابونه دي

www.libtool.com.cn

□

ژوند مې په مینه کښې لوټلی واخله
سوی نصیب مې سوځیدلی واخله
ستا د بیلتون شپې که داسې راځي
نو ما د خاورو ایرو ثلی واخله
نشته قسمت مې د خندا نشته دی
ما په سپرلي کښې دوړیدلی واخله
ستا په بڼو قطرې داوښکو ګرځي
ګریوان زما راشه شلیدلی واخله
ګوهر دې داسې لیونی دی ځانګې
په خپل اوربل یې خندیدلی واخله

www.libtool.com.cn

□

ستا دیاد لمبې دي اوزه سوځمه

توري توري شپې دي اوزه سوځمه

ستا تصویر مې زړه پوري نیولی دی

سترې شوګیرې دي اوزه سوځمه

ماتې مې تنها کې دزړګي شولې

اوښکې مې بس ملې دي اوزه سوځمه

ستورواوسپوږمۍ رڼا نوستلې ده

یخې پلوشې دي اوزه سوځمه

داګیلې جوړ نه رسي آشنا ته نن

پند په زړه ګیلې دي اوزه سوځمه

ته به څنګ رارسي زما عذرله

دومره فاصلې دي اوزه سوځمه

www.libtool.com.cn

□

ماته دمیني قیصې مه یادوه
هغه ګُل شوي ډیوي مه یادوه
پریده چې زړه مې لږ کرار ومومي
تیري ساه ډوبې څپې مه یادوه
دنیمه خوا میني پرهرې چیړي
زړګیه! هاغه کوڅې مه یادوه
څړیکې مې خېژي دوجوده نه لا
دفکرتناله جوتې مه یادوه
چیرته په اوربه مې سپوږمۍ لمبه کړي
ماته هغه شوګیرې مه یادوه
ګریوان مې لوند دی لا وچ شوی نه دی
دچا داوښکو شیبې مه یادوه

www.libtool.com.cn

□

ستاچې په رخسارو ځانګې اوښکې رڼې توی شولې
داسې معلومیږي چې د صبر کاسې توی شولې
مات بنګړي په کټ کښې دي پراته دي لیچې تشې دي
أف ! دځوانۍ سازه څه خوږې نغمې دې توی شولې
مخ دې زیړه پاڼه شواووینه بیلتون وڅښله
ته به وایې له مخه د سپوږمۍ پلوشې توی شولې
سترګو کښې رڼا دې څه سړه سړه او مړه لګي
ته به وایې په قبر د شهید و ډیوې توی شولې
ستا د ښکلو شونډو نه غمونو خندا یوړله
أف ! لکه چې پاڼې د لاله په میرې توی شولې

www.libtool.com.cn

په زړه بې وسه یمه تا ته ګورم

نظرچا ودلی مي دی چاته ګورم

پاتې زما اوستا ترمنځه څه دي

بیا قدم نیسمه اوشاته ګورم

ستا د تندي خالونه مره غونډي دي

لکه چې زه چانا آشنا ته ګورم

مینې دا کومه مرحله راغلله

چې هغه ګوري زه بل خواته ګورم

زما دلاس غوټی پکښې شته دي لا

ستا د کاږه اوربل وفا ته ګورم

www.libtool.com.cn

□

رانغله واپس هغه تياره شوله
لړه تياره نن څومره تياره شوله
دابدرۍ تېکرې راپه غاړه دې
لاړله دبخت ډيوه تياره شوله
شه شه چې پراوښکو وي پرده پرته
غم چې شولو دروند نو شپه تياره شوله
ژوند لکه چې مرګ سره بدل کړمه
اُف! دبيلتانه بده تياره شوله
زه دګتې يُت يم که بنده يمه
مريږې مې احساس ډيره تياره شوله

www.libtool.com.cn

ځنګه وخت تېرېږي دا تپوس مه کوه
وبه ژاړې ځانګې دا تپوس مه کوه

خپل حالونه وایه چې ته ځنګه یې
ما پریده په ځای زما تپوس مه کوه

تاچې پېژندلو تیر وختونو کښې
مانه نن د هاغه چا تپوس مه کوه

داسې تپوس کړه لکه پردی چې کې
مانه لکه خپل آشنا تپوس مه کوه

ستا د تپوسونو وخت اوس تلی دی
ښه به وي اوس دا چې بیا تپوس مه کوه

ستا په لا سوسرې وینې مې پورې دي
دغه ګوره نورسیوا تپوس مه کوه

www.libtool.com.cn

مــاچې دې داســتــر گــې ښـكلې ښكلې ښكلولى بـه

تـا تيــرې قــيــصــې راتـه د مــينې تيــرولى بـه

تابه دخــوب ډ كــې ســتــر گــې ورو ،ورو ځنبــولى

مــاچې دې ببــرو ېښتــه ورو ،ورو هـوارولى بـه

داســې لـيــونى په بړق خنداد واړو كــولو بـه

مــر گ ،خــپلـه ژوندون تـه زيرولى پســخــولى بـه

ژوند ته موچل ښودى واى چې ژوند تيرول څه ته وايي ؟

شــپــې دلوى اخــتــرپـه ســرونـكريزو رنـگولى بـه

زه چې شــوى خــفـه نو په زارو به رضــاكــولى تا

ته چې شوې مــروره مــروره نوبيا مــا پخـلاكـولى به

تول تراخــه دژوند به په خــوږو كــښې بدل شــوى و

مــاداســوې شــونډې ســتــا پرشــونډو يخــولى به

www.libtool.com.cn

ورځې د دیدن وې او شپې ورځې تېرېدلې

شپې مې ستا له خیاله رنګېدلې خوږېدلې

ستا مینه اخلاص ؤ او پر ما باندې باران یې ؤ

ما ته په قدم قدم د یوې وې بلېدلې

ستا او زما ذکر هره پینڼه هر محفل کښې وو

څومره خلقې وې ما او تا ته پسخېدلې

دومره رانژدې شوې چې راننوتې وینه کښې

ما سره هر ساه کښې اوسېدلې ګرځېدلې

چېرته چې کتل به مې نو ته به ښکارېدې راته

ما ته په ګلونو په سپوږمۍ کښې خندېدلې

www.libtool.com.cn

زیری دا ختراوډ نکریزو د تالونوؤ

سترګې چې سحر مې ستا په سترګو غړېدلې

نور څه وو د خدای په خدایۍ کښې چې مې غوښتي وو

ستالیچې چې ما ته اوږدیدلې غوړیدلې

خاورې پردې ستورو د آسمان به مې ورونوستې

ستا د موسکو سترګو پلوشې راخښیدلې

اوس وایم چې سترګې په نوکونو مې ړندې کړلې

ما څله لیدلې یا ته څه ته لویدلې

www.libtool.com.cn

چا وې له لاسونو نه لمنې خلاصیدل به وي

دې ډکه دنیا کښې یوله بله ورکیدل به وي

ماوې هن مرگی به زما ستا لاره جدانه کړي

چاته وه معلومه منځ په لارکښې بیلیدل به وي

دا سې مو خندل لکه ژوندون تېوله خندا چې وي

چا داسې گڼله نولیدل او ژړیدل به وي

یا خو بې دیدنه یوه گړۍ به تیریدله نه

یا اوس بې دیدنه د ټول عمر تیرول به وي

ستا کوڅه او چم زما د مینې زیارتونه وو

بې زیارته اوس له زیارتونو تیریدل به وي

ما خو وې چې ژوند به په خنگلو دیوبل وځي

غیره دیوبل کښې په آرام سره مړیدل به وي

www.libtool.com.cn

بیا به مي سرې سبتر ګي آشنا ستا په لورکږې نه شي
اوښکې به تري څاڅي ستا له غمه به لمدي نه شي
بیا به مي سپوږمۍ ستوري واونه وري په خبروستا
څوږند سرپه بالښت به مي ستا نورې شوګیرې نه شي
ژوند لکه دانه به په سوربټ کښې خپل لوخړه کړم
واوره!ستا لمن ته به مي هیڅیرې اسرې نه شي
زه دخپل خیالونو په جهان ځان له سودا کوم
ستا زلفې عبث زما په لورچې راخورې نه شي
زه ستا ددنیا نه لرې لرې ګوښه ناست یمه
ګورې ستا تندی چې په نمر بیا ماته خولې نه شي
ماډیوه پوکلې ده لیده مې ستر ګې نه کوي
هیڅوک دې تیارې کښې دې زما دتسلې نه شي

www.libtool.com.cn

وړى يمه ياد د پرونو ستر گو

نه لرم نصيب د نننو ستر گو

تا ته مې کا ته د زړه د سولو دى

گورم لکه تا ته په ړندو ستر گو

يادې مې دي څانگې خوبه هيرې کړم

هغه اشارې د نيم کښو ستر گو

ته د زوړه وخته تيرو تلى يې

خاورې د ندلى شوې په زړو ستر گو

نن مې رنې اوښکې په گريوان څاڅي

دا به هم کولو خندنو ستر گو

زړه به دې کړارنه کوي پوه يمه

ته چې گورې بيا په سوو سرو ستر گو

www.libtool.com.cn

مــخــې مــخــې ته مــې کــيــږي ســتــا يادونه
پـه تـرتـکـو مـــــــــې ژړئ دزړه داغــــــونـه
مـا پـه سـروچا پـو کـښې وسـوځئ چې خـلاص شم
وريتـــوي مـــې خـــپل نيـــمګړي ارمـــانونـه
نـه مـــې ژوند ،نـه مـــې ځـــواني دواړه پـه کـاردي
دواړه يوســـــه ، صـــــدقـــــه دتابيـلتـــونـه
مـــا پـه مـــينـه ځـــان تالا کـــړ ســـودمـــې دادی
پـه ځـــولی کـــښې ګـــرځـــوم اوښکې ډنډونـه
زه دې ډيرپه زړه ښـــادمن کـــړمـــه ښـــاد ګـــرځم
بـس دی لاس زمـــــــانـه واخـلـه اې ژونـدونـه
لـوغــــــــړنـې تـورانـکـې رانـژدې شـــــــه
چـې دســـــوې ژونـدانـه وکـــــــړو ويـرونـه

www.libtool.com.cn

□

مینه زما د اسویلو ډکه ده

لاره مې واړه دازغو ډکه ده

خدایه !سره ساه مې وانخیستله

سینه مې تانه دګیلو ډکه ده

سروتکي نیسي زمانه راپوري

سینه مې ټوله دپوکو ډکه ده

زه ناآشنا دخوشحالی نه یمه

زما ځواني بس دسلګو ډکه ده

په زیړوګلو دسپرلي کښې ولاړ

درسته لمن مې دایرو ډکه ده

www.libtool.com.cn

□

مړاوي مړاوي سترګي دي غمونه پاروي

وچي وچي شوندي دي دردونه پاروي

ته چي په پرکالي پرکالي کښي مي نوم اخلي

ستا اخلاص او مينه سره اورونه پاروي

ستا په زيړي مخ او ښکو ته نه شم تينګيدلي

يوزبيرګی دي ما ته قيامتونه پاروي

ستا په لوغړنو سترګو بيا ما ته کتل

هير کړي له ناکام زاړه يادونه پاروي

□

www.libtool.com.cn

ستا خوارږ یادونه به ورو هېر کړمه
ژوند په خپلو لاسو به ګندهېر کړمه
څوک وايي بې مینې ژوند تیرېږي نه؟
زه به ی په ژړا په خندا تېر کړمه
کله به داوایم چې ته خاورې شوې
کله به خپل ځان په مړو کښې شمېر کړمه
ته به ماونه پیژنې بیا چیرې
زه به ژوندانه په داسې څېر کړمه
ستا آواز به پاتې ستا پرشوندو شي
زه لکه پردی چې په تا پېر کړمه

www.libtool.com.cn

چې دا زه د زړه د څـــــانګـې نه جــــدايم
مـــابه پوه کــــړې ژوندي څله په دنيــــايم
خدايه! دا ســخــتــي به ســتــا پر ما پيــرزو ړي
څکه زه د بـيـلتـــــانـه په ســــخـــتـــــو پايم
غـــورزمـــا په نعـــرو چغـــو خلکه مــــه ړدئ
ليـــونـي يـمــــه د ځــــان ســـره لـګـيـــايم
د دې دومــــــره بـې ارزي د ژونـد ســــــره هم
پښـتـني پـيــغـلې زه ســتـــا يـمـه ،زه ســتـــايم
داژوندون مـې ســتـا په مـيـنـه کـښـې شـو خاورې
ښــايي بيـــا دې هم خــيـــال راشي بې وفـــايم
خلک جـــور دې پــيـــغـــورونو له ګــــوهره
پريـږده حــــــــال د زړګـي څلـه چا تـه وايـم

www.libtool.com.cn

بيا مې په مخ ښخې دي آشنا سترګې
ولې دې پردې کړمه زه دا سترګې
څانګه ده ولاړه د بلې په سر
غوښې غوښې وينم دوفا سترګې
ما سترګې ګنډلي له جهانه وې
ما خو غړولي يو په تا سترګې
دا سترګې به څنګه زما هيرې شي
دا سترګې زما دي د حيا سترګې
وايه چې رښتينې مينه هلته ده
چيرته چې دوه سترګې کړي پخلا سترګې
ستا سترګو ته کله چې زه وګورم
ستوري ښکلوي په شپه زما سترګې
تيرو ختونه بيا دي راپه بيرته کړل
تاراواړولي څه په شا سترګې

□

www.libtool.com.cn

غتې غتې دې بېدلې ماکتل
په ګريوان دې څڅېدلې ماکتل
په سلګو سلګو کښې زه دې يادولم
په ځنګون چې نولېدلې ماکتل
ستا د مخ سور ګلي پاڼې پاڼې توی شو
لکه پاڼه زېړېدلې ماکتل
زولنې يې ستا و پښو ته اچولې
تا د لړز چيغې وهلې ماکتل
تا ته فرق وو معلوم په نن پرون کښې
اې چناره! سوځېدلې ماکتل
ما ګريوان ريخې ريخې په بې وسۍ کړ
ته سرتوره ژړېدلې ماکتل
د رنځو پولې دې جوړې وې ترزنې
له ناکامه خندېدلې ماکتل

www.libtool.com.cn

□

زه به ستا د مخه ستر ګي ښکته اړومه
تا به ښکنګ پريږدمه ، بل به ښکنګه خپلومه
مينه د پښتون خو په ټول عمر کښې يوځلې وي
زه خپله پښتو به ښائسکې ښکنګه شرمومه
ستا ښکلي خيره چي مې په وينه کښې اغږلي ده
دا به ترمرګيه په څه شکل هيرومه
دادکاني کرښه ده چي ستا يمه نو ستايمه
وي به آخري سلګۍ خو تا به يادومه
ستاليونۍ مينه که روزي چيرې زما نه شي
زه پدې دنيا خوشې بيا اورپورې کومه

www.libtool.com.cn

□

سره دي پرځنګون کړو او سودا يوړي

کوم ورځ شپو وايه رابيا يوړي

ماته دسلګو سلسله نه شوله

هی څه دبيلتون بدي بلا يوړي

سره ګلاب دمخ دي لاړو زيړشولو

لاړي خزانونو نيمه خوا يو وړي

ماشوندي جدانکړي لاهو شومه

ته دي ګلي ورځي او حيا يوړي

داويجاړي سترګي يرول کوي

دي نه هغه نور او مستي چا يوړي

www.libtool.com.cn

زمــا تيــاره مــاښــام ســبــا وګــڼــه
دامــــــره ډيوه بلـه رڼـا وګــــڼــــه
زمــا کـــاته په ســوو ســتــرګــو تاته
دلیــونحــالو مــشــغــولاوګــڼــه
زمــا ژړاپه ژړامــــه حــــســـابوه
زړه کــــره دوکــــه اوداخنـدا وګـــڼــه
په آشنا ســتــرګــو دي پرونی راښکه
مــالـه ناکــامــه ناآشنا وګــڼــه
کــه زه داســتــاپه کــوخــه بيــادرغلم
دامـــــي په هيـــره يوه خطاوګــــڼــه
زمــالاســونه دآســمــان په لوري
ســتــا دســمــسوري ورخ دعــاوګــڼــه

www.libtool.com.cn

دزړه په غــــوښـــو پا يـيـــدل مـــــينه ده
لمبــه کــيـــدل ،چپ اوســــيـــدل مـــينه ده
چې ارمـــــانـونـه دژونـدون خـــــاوري شـي
په لوندو ســــتـــرگـــو خنديدل مـــينه ده
مـــــينـه ژړااوســــــوران نـه پـيــــژني
بـس پـه ولاړه دړيــدل مـــــــــــــينـــه ده
ســـتــــانوی کـــوردې مـــبـــارک وي تا تـه
مـــاتـه دژوند تالاکـــــيــــدل مـــينه ده
لـوظ خــــويـه ديروپښـــــتـنو کـــړی وي
په کـــړي لـوظ باندي مـــړيدل مـــينه ده

www.libtool.com.cn

مه مې پاروئ اوس مې دردونه اوده شوي دي
سترګې مې ورغلې دي زیمونه اوده شوي دي
زړه مې په خندابانديږ دهیچاتړقانه کوي
خاورې ایرې پاتې دي اورونه اوده شوي دي
ته په ژړاسرې سترګې بیامه رااړوه ماته
نن دمرګ په خوب مې پرهرونه اوده شوي دي
مړه شو احساسونه مې دمینې أنتها وشوه
ښکته کړه شهباز غوزار تارونه اوده شوي دي
کوم دیوال ته وګورم په کوم بُتکي سودا وکړم ؟
چُپ دهدیرې په شان چمونه اوده شوي دي
نن دي تورانکي ژبه وګنډه مامه چیره
اوس راسره غیر.کښې تیریادونه اوده شوي دي

www.libtool.com.cn

ته چې په سلګو سلګو زما خواله راغلې يې

دا په مينه ننګ دی په پښتو رارسيدلې يې

کاش چې مې ستا اوښکې په ښو باندې راټولې کړای

ته په بيلتانه کښې څه ناترسه ژړيدلې يې

دالنده موقع چې په سرو اوښکو کښې لاهو نکړې

شونډې دې جدا کړه خدای د پاره ولې غلې يې

زه ستا د جذباتو په خاموشه ژبه پوه شومه

ته جوړې په لاره کښې پردو خپل ليدلې يې

لږه رانژدې شه چې دې دواړه سترګې ښکل کړمه

ته د تهمتونو نه ډاډه راتيروتلې يې

اوس به په آرام باندې مې ساه په ځنکدن کښې ځي

ما په مړو سترګو آخري ځلې ليدلې يې

دومره قيمتي خو دا زما خاورې ځواني نه وه

ته لکه ډيوه چې په لحد مې سوځيدلې يې

www.libtool.com.cn

بهیر داوښکو مې قلاره نه شو

دامې دزغېر تمامیدو نخښې دي

کاواکه زړه چې مې په واک کښې نکړو

دامې درخو دورکیدو نخښې دي

که څوک پوهیږي نو زما په خندا

دبې ګودره ډوبیدو نخښې دي

بانه چې ستا په غم درانه وینمه

دامې دزړه دورانیدو نخښې دي

www.libtool.com.cn

□

پاتې زنګیـــدلو له زمـــا اوږده فکرونه شـــو
مــه راځــه اخـــتــره! چې ســاړه واړه تالونه شــو
سترګې مې وریتیږي ستاکوڅې پله چې ګورمه
ســتـا هغه لیـده واړه خیــالونه شـو خوبونه شـو
ذهن کــښې دنوه مــې ســتــا غـــمونه اچولي ده
ته خـــورانه لاړې راته پاتې دې یادونه شـــو
څومره بختوریې اې نصیبه تلې خاورې خوزه
خــاورې دې په ننګ دچا دمــینې ارمــانونه شــو
زړه کـښې دخیــالونو محلونه مــې جوړ کړي وو
ټیک دې پرتندې شـولو نسکورمــې مــحلونه شـو

زه ستاد دردونو نه په وراندې عمرنه غواړم
مړبه هاغه ورځ يمه قلار که مې درد ونه شو
پوهه شه عالم چې زما اوښکې ستا په غم کښېږي
زه وايه څه وکړم زما اوښکې ستا خالونه شو

www.libtool.com.cn

www.libtool.com.cn

ستا د مینې اورثه د مړیدو نه
داسوی په ژوند درغیدو نه دی
دا اوښکې به غوښې مې له مخه وړي
داسیلاب آشنا دوچیدو نه دی
ستا دچم کوځې دې لاس په سرشمه
داکارخو زما نه دکیدونه دی
داثیري گریوان و ثله وگنډم
باردې د تهمت دکمیدو نه دی
ستا یادونه هیرکړم ثنگه هیرکړمه
روح مې لاله تن دبیلیدو نه دی
واوښتې ثپې مې دبیلتون پرسر
مرگ له دې سیوادغمیدو نه دی

www.libtool.com.cn

□

ژوند مې دمينې په سودا سوی دی
دخپله لاسه مې آشنا سوی دی
خلک گومان کړي چې سپرلی گرځمه
ځان مې څه داسې په خندا سوی دی
سوی او تاوبه دسکروتو څه وي
دبيلتانه سوی جدا سوی دی

www.libtool.com.cn

□

زمـا دمـيني نصـيـبـه لاړه ويرونو کـښـي شـوه
کښتـۍ دغا ړي شوله تيره طوفانونو کښې شوه
پريږده چي دا خـوشـي لمنه کـړم ريښـي ريښـي نن
قـيـصـه دګلود سـپـرلو په تالانـونوکـښـيـڼ شـوه
اوس خـو رنها زمـا کـوخـي پله قسم وخـوړو
په پلوشـو وينځلې شـپـه لاړه يادونوکـښـي شـوه
يو مـودی چم اودکـوخـي سره کـوخه جـوختـه ده
دديدن هغه يوه کـوخـه په هيـوادونوکـښـي شـوه
څـه ښکلي ښکلي ابتـداوه له اخـلاصـه ډکـه
راتلـه راتلـه ډوبه ژړا اوفـريادونوکـښـي شـوه

www.libtool.com.cn

□

زړه په ژړاباندې مې سپک کړ ښه مې وژړلې

سترګې مې وچې کړې اوښوندې مې ښې وګنډلې

آخرې ځل مې ستا له مخه نه پړونی لرکړ

ښه په ځير ځير مې وکتلې بيا مې وشړلې

ستا په کوڅه کښې ارمانونه مې کړل ښخ اوراغلم

خاورې مې توی کړې اولمنې مې ښې وڅنډلې

رباب مې مات کړ اوتارونه مې تول وشلولو

شهباز مې وغورځوو نغمې مې تولې ولوستلې

ستا په خطونو مې اورپورې کړ ولاړ وم ورته

ستادلاس ليک باندې لمبې آخرې کيناستلې

ستا ددنيا نه لرې لاړمه بيا رابه نه شم

ستا له کوڅې نه مې رشتې نن واړه وشلولې

www.libtool.com.cn

زمـا دمـينې ارمـانونـه څـه دړدمن پاتې شـو
دزړه زخـمـونـه مـې دټول عـمـرزولن پاتې شـو

دګيا کـوي مې په ورو ، ورو ستا دیادونو څړيکې
لمبـې به نه وي خـو تاوونـه دخـوړلن پاتې شـو

سالـو دسورپه سر راخورشـو په تندي دې شـوټيک
دآشنا سـوي سـتـر غلي دې څـه نمجن پاتې شـو

سـتـا دبلې ښندې پرخـپلې سـپـيرې ورخې ژاړي
سـتـا دكـوځـې بُتګې له مـانه ګـيله من پاتې شـو

مـاسـتـا دپاره دسـپـرلي غـوټۍ راوړې وې نن
زمـا په لاس كـښـې اميلونه څه غـمـجن پاتې شـو

تـه رانه لاړې څـه چې واړې دنيـا شـاكـړه راتـه
وخـتـونه ټول راته تاوجنه قـهـرجن پاتې شـو

www.libtool.com.cn

څـــو چې تـه راځـــې دبلې ســـرتـه وخت بـه تلى وي
خـــاورې بـه الوځي ليـــونى بـه تيـــروتلى وي
ســتـادسـتـرګـو اوښکې چې ترزنې رابهـيـرې څـو
ســتـاخـاورې مـين بـه پـه هيـوادو رسـيـدلى وي
نه بـه سـپـورې سـتـغـې داولس وي نه بـه زه يمـه
خـوشـې بـه کـوځـې شي واړه کـورکلى بـه غلى وي
وينې بـه خـوراک دې وي درخـو دشـوګـيـرې پـه شـپـه
دومـره بـه خپل ياد مې تاتـه وروستـو پريښـودلى وي
تابـه پـه بالښت دسلګو څلي خـيـــــژولي وي
خط چې دې زمـــا پـه آخــري څلي لوســـتلى وي
غم ددنيــاګـى دومـره ناترسـه ځـواني مـرګ نه دى
مـړکـه شـه ګـوهرنو ســتــا غـمــونوبـه وژلى وي

www.libtool.com.cn

له مانه په لوندو سترګو آشنا مه رخصتیږه

داوښکو په شیبو کښې خو یوځلې وخندیږه

یوځل آخري غاړه راله راکړه اورخصت شه

چې نه یې دایسارېنو ورځه مه ایساریږه

زه ستا دزړو شونډو رپندی نه شم زغملی

ځه مخ په بله واړو، راته مخ ته مه ودریږه

دسر دوپټه سمه کړه پروني دې راټول کړه

له دې چمه چې وځې زړه دې لوی کړه مه ژړیږه

زما داخلاص دکه دعاګانه سره یوسه

په ژوندکښې ښیرازیږه، ودانیږه، خوشحالیږه

دعمرجدایي دمرګ څپېړي نه [illegible]

خوته خو ښستنه یې ته تري ګوري مه ویریږه

www.libtool.com.cn

مــــينه كـــــښــــې درنـې زلزلې پاتې دي
يوه څــپــــه شـــوه تيـــره څـــپــې پاتې دي
داډيوه تـرڅـــــــو به مـــــــې ملګرېوي
مـــاته لا اوږدې شـــوګــــيـــرې پاتې دي
ســــتـــــا يادونه زړه كـــښـــې لاژوندي ســـاتم
دومــــره دخـــــوانى مـــــې ايرې پاتې دي
اوښكو ! لاځـــولى مـــــې ډكــــه نه ده ښــــه
شپــــه لاخــتـــمــــه نه ده تيــارې پاتې دي
څــنــګـــه درتـــه ووام كــلــه ويـــلـــى شــم
مــانه ســتـــادمـيني كــوڅــې پاتې دي
هره تبـــاهي خــــومـــــې ليــــدلې ده
اوس مــــې يـودقــــبـــــرخــــزې پاتې دي

www.libtool.com.cn

□

پرې نه ږدئ يوازې مې د خلکو تهمتونو ته
لاس راکړه په لاس کښې دې را ودانګه اورونو ته

دا د پښتو ملک دی چې پښتو ګورې کچه نه شي
څوک به بيا مخ نيسي د عالمو پيغورونو ته

غاښ د زمانې يې چې پرانستو باندې وريښې
راشه داسې کلکې غوټې ورکړو پلوونو ته

ګورې چې دستورته نو خځلې به د لارو شو
څه چې د واړه شاکړو دستورونو رواجونو ته

www.libtool.com.cn

□

ته د رواج په زولنو کښېږي وې تړلي څانګي
ستا څه ګناه دی زه له تانه څه ګیلې نه کوم
زه اوس ایسار نه یمه پرې مې بړده په مخه چې ځم
زه په تالا نصیب په دې کلي کښې شپې نه کوم
زه یمه ګتمه احساسونه زما مړه شو واړه
زړه مې پر هر چا سوځیده اوس دا قیصې نه کوم
ما سره هیڅوک تر سحره سوځیدلي نه دي
ما قسم وخوړ وا تبار په یوې ډیوې نه کوم
سترګې مې وګنډلې مات مې کړ کچکول د امید
طمع له چانه په دنیا د تسلۍ نه کوم

www.libtool.com.cn

□

زه داســـتـــا لـه مــينې نـه ځنګ غـــاړه غـــړولی شم
ساه لا راکـښـې شـتـه ده اوس دې کله هيـرولی شم
خيـر دی کـه خـدا مې پـه ژونـدوني نـصـيب نـه شـوله
زه يې د ســـرواوښـکـو پـه ژړاکـــښـــې تيـــرولی شم
تـه کـــه زمــــانـې زمــانـه بيـلـه کـړې نـو څـــه وشـــوو
زه پـه زړوســـتـــرګــو تيــروخـــتـــونـه يادولی شم
دومـــره لا رشــتـــه زمــا اوســتـــا دزړه ترمنځـه شـتـه
داتـوله دنيـــا پـرې چې زه اوس هم ســـوځـــولی شم
مـاڅـخـه قـيـمـت سـتـا داخـلاص اومـينې نشتـه دی
دومــره قـــدر کــړلی شم چې ســرخـــپـل خندولی شم

www.libtool.com.cn

□

وخت دی تیـــرومـــه په زړه مـــاتې زمـــانې ســـره
ځـان له ورکــومــه دوکــه تشـــې پیـــمـــانې ســره
زړه مـــې دی لوی کـړی چې شلوون درسـره نه کـوم
پاتې زمـا څــه دي ســتــا دمــینې افــســانې ســره
دابه زه ســـاده یم یا اخــلاص یابه مـــې مـــینه وي
سـرمـــې په زیارت دمـــینې ایښی شکرانې سـره
ته مـــې بهـــانه دژوند تیـــرولو وې ،ته لاړلې
وایه تیـــرومـــه به ژوند کـــومـــې بهـــانې ســـره

www.libtool.com.cn

□

مـــانه به څـــه ومـــومـــې څـــه مـــاته خندا مـــه کـــوه
داســـــوى بازار دی ګلې دلې ســـــودا مـــــه کـــــوه
زه په ژوندانه باندې ســـتـــومـــانـه يم ځــــان ژاړمـــه
مـــاته اشـــارت دبڼـــو لاندې بيـــا بيـــامـــه کـــوه
زه خـــاورې ايرې يمـــه له خـــاورې ايرو څـــه غـــواړې
لږه کـــه پوهيـــږې نو تپـــوس هم زمـــا مـــه کـــوه
مـــاپله کـــــه راغلې نو پنډونه بـه دغم يوســـــې
ځـــان دې کـــه په ســـد پښـتـنې داســـې خطا مـــه کـوه
پريږده لکه ســـيـــورى چې په تورو تيـــارو ورک شـــمـــه
مـــا باندې زړه مـــه ســـوځـــوه دلې رڼا مـــه کـــوه
شړنګ اوس دبنګړو مې پرهرونه په زړګي کنبې کړي
دغـــه به احـــســـان دې وي چې دلې شـــنـــا مـــه کـوه

www.libtool.com.cn

څانګې له تانه ملګرتیا پوره شوه

زما د عمر لیونتیا پوره شوه

زما په وینو دې لاس ووینځلو

ښه شوه چې ستا دزړه سودا پوره شوه

ماله پیغور دې راکوو اوس وایه

له چا پوره نه شوه ؟له چا پوره شوه ؟

پښتو دې سروخوري ،وعدې څه ته وایې!

پښتنې ستا چې نیمګړتیا پوره شوه

کچه بنګړي وې تاوته ټینګه نه وې

په ما دې راوسته حیا پوره شوه

www.libtool.com.cn

ته چې وختلې پښتنه دومره کچه نه وه

لاس به يې بل چا څنگه نيولو چې خومره نه وه

ماوې ته له ما چې جدا کيږې اور به ولگي

نه چرته سلگۍ وه نه وه اوښکه زلزله نه وه

زړه که دې زما په جدايۍ څه سوځيدلی وای

دا څنگه خبره وه چې اور نه ولمبه نه وه

تا په خپلو لاسو چې نکريزې څنگ زغملې دي

تا ته ولې ياده د پښتو کړې وعده نه وه ؟

ته په تصور کښې د ډولۍ جوړ ډوبه شوې وې

ځکه پر تندي د ملامتي دې خوله نه وه

خاورې پرې وروا ړوه گوهره نوم يې ماخله نور

تاچې له چامينه کړه هغه جوړ پښتنه نه وه

www.libtool.com.cn

وګــوره نـکريزوتـه ،رنجــوتـه ،ســرې جــورې تـه دې
وايه مــيـنـه داسنــېوې اوکــړې وعــدې داســېوې
تاخـوبه سـوګند خـوړوچې ستـا په ننګ به مـړيږمـه
تاچې دې څـه کـړي جـوړې ننګ پښـتنـېداسـې وې
تاچې پـه کــږه لـيکـه تندې لـه ټيـک راوســتـي دی
تاچې‌به ويـلـو نـو سنبـــال جنازې داســــې وې
سره بنـارسۍ کـښـې سرې ډولۍ لـه چه اوچتـه شـوې
جـوړې دمـين جـامـې په وينو خـوشـتـې داسـې وې
ته چې کلـه لاړلې دخـيـــرپـه ډيرۍ کـــيـنـاســـتــې
مــينه کــښــې تـاله دننګيــالۍ اديرې داســې وې

www.libtool.com.cn

تا پرو ․․ سم خورو چې تا سره مېنې مېنه ده
لږه مخامخ شه چې نن چا سره دې مېنه ده
نن خودې دا دواړه سترګې ځمکه کښې تومبلې دي
خو به داسې ګورې چې زما سره دې مېنه ده
س ا يه رنګ جو ته کښې زړې نخښې ولې نه شته دي
واړه دروغ وايې چې زما سره دې مېنه ده
دانګريزې ،سره جوړه او سره ډولی خوهيڅ نه دي
ښه !وايه مير منې په رښتيا سره دې مېنه ده
هاغه پيغله خاورې شوه چې ما سره يې مېنه وه
ته له کومې راغلې او د چا سره دې مېنه ده
زه څوک لتومه چې په اوښکو مې شريکه وي
ته خو ډيره خانده د خندا سره دې مېنه ده .

www.libtool.com.cn

□

ستا د ياد سکورټې دې بليږي
زړه مې پې تيکه ټيکه وريتيږي
تاچې هيرومه لا راياده شې
دې نه چې به ثانگې ثه جوړيږي
وايم داچې وه دغم تيره شوه
گورم بيرته بيا رابيريږي
ماچې ورته ټول عمر کتلي دي
ثنگ به هغه سترگې مې هيريږي
ستانه چې بغير دنيا ته گورمه
سترگې مې په هيچا نه خوړيږي
ورک دې شي دا پينډې بنډارونه ټول
ساه مې په عالمو کښې ډوبيږي

www.libtool.com.cn

□

گـــرځم په هغـــو زړو چمـــونو کــــښېـــي
چرته يې ؟ په کـــومـــو هيـــوادونو کـــښېـــي
راغلمـــه خـــوته چرته کـــښېـــي نه ښکاري
ونښـــتـــې په کـــومـــو جنجـــالونو کـــښېـــي
زړه دې جـــور زمـــانه رغـــيـــدلى دى
نه ښکارې په هاغـــوبور جلونو کـــښېـــي
بيـــا چې پښـــتنه ځـــانتـــه ونه وايي
داســـې پښـــتني وي په خـــوبونو کـــښېـــي
وګـــوره لړمـــاته زمـــا مـــيـنې ته
داســـې پښـــتانه وي په ننګونو کـــښېـــي

www.libtool.com.cn

□

چې مینه یې ریښتیا وي زلز لو کښې به راځي

په زول او په زړلی، په شرک شیبو کښې به راځي

د مینې لیونی چا اړولی دی د لارې

چې وخت د دیدن راشي سرو لمبو کښې به راځي

د ورځې که راتلی نه شي د ننګه او د شرمه

پرونی به په سر کړي تورو شپو کښې به راځي

که سایې آخري وي خو زمانه چې خبر شي

د کتې به راټوپ کړي په سلګو کښې به راځي

www.libtool.com.cn

دبې کـــينې پښــــتنې ،کـــچـــه لوظونه واخله

مــــا په قــــلاره پرېږده ،داخـــپل يادونه واخله

لږدې گـــريوان ولتـهــو ،دې کـښـــې دې مخ وگـــوره

مـــادرگـــوزارکــړل واړه ،هن !خـــپل خطونه واخله

زمـــا پوښـــتنه مــه کـــړه ،زه دې اوس څـــه لگـمـــه

مـــابيگا نه څـــه کـــوې ،مـــاته لاســـونه واخله

مــــاته په جــــارووايه ،چې زه دې نه پيـــــژنم

مــــاته پرمخ باندې نن ،پردې نومـــــونه واخله

نـکـريزې هـم پورې کــــړه ،رانجــــه دې هم لگوه

په نوې لاره دژوند ،څــــه قـــــدمـــــونه واخله

مـــاته په شـــامــه گـــوره ،مـــامــه بله مــه راڅــه

دخلکو خـــولې غلې کـــړه ،داتـهـــمــتـــونه واخله

زمـا ارمـان څـه کـوي ، سـتـا دې سـودا پوره شي
www.libtool.com.cn

زمـا ژړا څـه کـوې سـتـا دې خندا پوره شي

زمـا به مـينه څـه وه ، زمـا به څـه اخـلاص و

خـاورې پرمـا به دچا ، څـه نيـمګړتيـا پوره شي

شـاته دې څوک پاتې دي ، شـاته به څه له ګـورې

هيـرشي نومـونه پردي ، چې مـدعـا پوره شي

ښـه مـې پيـرزودي پرتـا ، بد به :ې ونه غـواړم

سـتـادې ارمـان وريژي ، سـتـادې دنيـا پوره شي

کله خـووبه وايې ، چې داګـوهر لاڅـوک و

مـينه کـښې داهم راڅي ، آخـربه دا پوره شي

www.libtool.com.cn

□

ته به تیرې ورځې یادوې څله

چاسره به مینه زړوې څله

مینه به دې کړې وي خو داغ نه یې

ولې به سرې اوښکې څڅوې څله

مخ باندې زما څپېړې وشماره

سترګې اوس د شرمه ټیټوې څله

زه به دې څه وم اوس دې څه یمه

ما باندې زړګی به سوځوې څله

مانه خو پړده تا له پکار ده اوس

ما پردې ته مخ را اړوې څله

www.libtool.com.cn

□

بنګړي دې مات شو، اوفرياد ونه شو
سترګې سوداشوې، رانجه غمونه شو
سالو د سر دې پر ځمکه پريوت
ليونۍ مينه، سوي سوچونه شو
شونډې دې مړې شوې خندا دې توی شوه
مخ دې خزان شو مړاوي ګلونه شو
ډوبې بالښت کښې پټې سلګۍ شوې
لوندې په اوښکو دې مړوندونه شو
سپوږمۍ پنا شوه تياره خوره شوه
آشنا رانغی په ويرچمونه شو
نکريزې توی کړه، خالونه وران کړه
اختر په شاشه، ساړه تالونه شو

www.libtool.com.cn

کوم خبرې د خیالونو سره
لا رو کوچو کښې د یوالونو سره
زما د پاره په دنیا کښې څه دي
وخت دی تیریږي ستا یادونو سره
چې تعلق مې ستا د نوم سره وي
ژوند مې دی خوښ د تهمتونو سره
ډیوه د مینې به دې بله ساتم
که ژوند تمام شي ارمانونو سره
اوښکې مې څاڅي له چشمانو ښکته
په مصلې د رکاتونو سره
دا خوشحالي به دا ختر لویه وي
چې روح مې لاړ شي ستا غمونو سره
ستا د خط هر ټکی ورانیږي ګلې
زما د اوښکو بارانونو سره

www.libtool.com.cn

□

زړه مې داسې ړېږي زلزلې جوړې راځي

شپه داسې درنېږي شوګیرې جوړې راځي

نن په ناخوالۍ چې مې خندا شونډو له راغله

ښکارې چې داوښکو قافلې جوړې راځي

سرې لمبې داورمې په لمدو غوښو ګرځېږي

مخې ته رابیا سترګې ناغې جوړې راځي

ستا الوول زلفې نن دانه وانه ځړېږي

اُف دبیلتانه تورې تیارې جوړې راځي

لاس چې خپلو ګریوو ته اوچت شه دګوهر

ستا دلورسلګۍ وړې وړې جوړې راځي

www.libtool.com.cn

□

ته چې رانه لاړې نو وختونه ژړېدل

احساس د جدايي کښې مې خيالونه وريتېدل

ستا ځورند و سترګو کښې ژړې وې او ويزاندې

پر مخ دې سره ګلونه زيږېدل او دوړېدل

پرونۍ دې راښکلې شو په ځمکه بې خودۍ کښې

له هره درونده قدمه دې سوچونه تاوېدل

سيلۍ د بيلتانه شولې ببرې والوتلې

ستا ښکلې قدمونه مې په وړاندې ورانېدل

طوفان د سره واوښته مالاس په سترګو کښېښود

د صبر طناووشليد سيلابونه څڅېدل

www.libtool.com.cn

نوردې پاتې نه شولو په ستر ګو خندنو کښې
سوې دې باتې رڼا دې نه شته په ډېوو کښې
تاله خوېه کار دی چې سرمخ له دنیا ونغاړې
ته لاڅنګه ګرځې په وطن د پښتنو کښې
زه به مبارک شه در کومه ستا په ننګ باندې
چیرې خوېه مخې له مې راشې په کوڅو کښې
ستا او زما مینې ته مخلوقې پسخیدلې به
هغسې خبرې زما ستا دي په حجرو کښې
لږ غوندې په ګریوو کښې سرتیټ کړه فکرو کړه لږ
څومره څه رښتیا وو ستا په مینې په وعدو کښې
لاسو ته دې وګوره که شک زما په خون دې وي
وینې مې دې ګډې ستا پدې نکریزو سرو کښې

www.libtool.com.cn

تاسره چې تیرشو ښکلي ښکلي څه وختونه وو
ښکلي ماښامي وواو څه ښکلي سحرونه وو
رنګ دبهارونو مې جذباتو کښې ګډ شوی وو
ستادلوپټو په شان رنګینه مې خوبونه وو
ټوله دنیاداسې ښکاریدله چې ګډاکوي
بل هره کوڅه اوپه هرچم کښې مشالونه وو
هرڅه مې هیرکړي وواومخ مې ستا په لوري وو
ستادمخ زیارت باندي دسترګو مې پیرونه وو
ستا په تصورکښې به مې ټوله شپه شوګیره کړه
څومره دي خواږه خواږه اوږده اوږده فکرونه وو
څریکونه دزړه به مې ښکالو ستا دبنګړي خته
ګریوو کښې زرغون مې ستا دزلفو لونګونه وو
اوس چې تش میدان ښکښې چارچاپیره ځغلوم نظر
داسې معلومیږي لکه واړه چې خوبونه وو

www.libtool.com.cn

بیا درته دریا دې څه قیصې شولې
ډکې چې دسترگو دې کاسې شولې
سر ته چې ځنگون دې اړم کړی دی
دادې څه بیدارې وسوسې شولې
ولې دې وجود په رپندې دی تول
پورته دې په زړه کومې تیارې شولې
شونډې وچې دې پترې کوي
تاو درنه داڅه بلې لمبې شولې
ته به وایې تندر کښې سپوږمۍ شوله
خړې دسپین مخ دې پلوشې شولې
سردې شو سرتورسالو دې پریوته
سترگې دې ډیوې دهدیرې شولې

www.libtool.com.cn

مـــادهمـــيـــشـــه دپاره ســتـــا داكـــوخـــه پريښــوده

مـــــا په تا ترلي دعــــــمـــــرونو كـــبره پريښـــــوده

وادې خله په بيـــرته خــپل لوظونه اوخطونه خـــپل

اوركـــړه ورته پورې چې دې خـــپله وعـــده پريښـــوده

زه اوتـه شـــو داســـې بيگانه لكه چې خـــپل نه وو

ته چې گـيله وركـې شـوې نو مـاهم گـيله پريښـوده

تيــره مـــې زړگي ته دلوی صـــبـــر پخـــه كـــيښـــوده

مـا ســتــادخـيــالونو ديادونو رشـتـــه پريښـــوده

ښـه شوه چې اوربل دې شولو خوراولاس دې سره شولو

خيــردی كـه نيـمگړې دپښتـو دې قـيـصـه پريښـوده

واخله آخـــرې مـــبـــاركې دنوې كـــورله مـــا

څـه په خـپله مـخـه مـاهم ســتـا لوپتـه پريښـوده

www.libtool.com.cn

□

لاس چې سره کیدل دي نوته ویښه که اوده وې
خورچې دې اوربل شه نو خندل دې که خپه وې
څومره دې پاخه لوظونه کړي وو په ژبه
وخت چې دازمیښت شوله بنګړي نه هم کچه وې
دومره مې باور وستا په مینه پښتو باندې
ماوې چې دولې له ی پاڅولې ته به مړه وې
ډيرې ننګیالي دمینې پت کښې خاورې شوې دي
خلکو دخولې اورم وایي ته هم پښتنه وې
نن و م چې مخ مې په کفن کښې ستا هم نه لیدای
کله داسې وخت و چې دځان راته خوږه وې

www.libtool.com.cn

□

غم به دې نچوړ کړي ځانګې غم سره آشنا مه شې
زه د بريمه خاورې ايرې ته لکه زما مه شې
ماستا له بيلتونه ټولې اوښکې صدقه کړلې
ستا خندا نصيب شه ،ته آشنا هم له ژړا مه شې
ځه! دا ختر لوبو کښې همزولو سره بڼ ته ځه
ته زما په شان له اخترونو نيمه خوا مه شې
پريږده چې يوازې د ژړګي غوښو ته ناست يمه
ته سمسوره اوسې په ځوانۍ داسې تالا مه شې
زه داستا په مخ د رنجو پټولې زغمی نه شمه
ما به شنه لمبه کړي ،رانژدې زما ترخوا مه شې
بيا به داسې څوک وي لکه زه چې پرې خوايخه کړي
ما سره نصيبه! په ژوندوني را پخلا مه شې
دې خاورو ايرو کښې يوه ذره د ټوکيدو نه شته
ما پله که نيت دې وي سپرليه چيرې را مه شې

www.libtool.com.cn

□

تالادي کـړم زړ گـيـه سـتـا سـودابس دغـه وه

په وينو کـښـې ترسـخـيـره انتـهـا بس دغـه وه

سـيلي،شـولي ببري په مـيـرويي پانې تويي کـړې

قـيـصـه دبيلتـانـه دوريت لالابس دغـه وه

په خـنـه کښـې دپيـغلي يوجـمـپکه اوبيـا خاورې

سـپـرلـيـه !راتـه وايه سـتـا خندابس دغـه وه؟

دوريځو په تيـاروکښې خړيکه پورته شـوه پناشـوه

زمـادنـصـيـبـي تـولـه رڼابس دغـه وه

يوڅاڅکی دې رانه کړ،چې وی ستونی مې لوندکړی

دمـينـې اباسـينـه!سـتـاغـوغـابس دغـه وه

www.libtool.com.cn

درنگ ساعت غوغا وه سیواهیڅ نه وو
پورته شوي لمبې لګي بیاهیڅ نه وو
شمعې نه چاپیره څوچورلکه وو
خاوري هوایوړي په شاهیڅ نه وو
داسي بیلتانه لمني غوڅي کړي
ستازما ترمنځه آشنا هیڅ نه وو
تاسره چي ومه دنیا هرڅه وه
ستانه راجداپه دنیاهیڅ نه وو
زهر وو یاا وښکي زما خپلي وي
نورڅه په کاسه کښي زما هیڅ نه وو

www.libtool.com.cn

□

بې تادقيامت شوګيرې تيريږي
په زړه مې څه يخې څپې تيريږي
بې تا په ژوندون يې زه نه حسابوم
بې تا څه دمرګ ورځې شپې تيريږي
چې ته شوې ايساره په څه شوې ايساره ؟
پرزړه مې بلاوسوې تيريږي
ګومان پرې کوم، دې ستاکرپ دقدم
په خواکښې مې غلې ورمې تيريږي
په شپه دبيلتون زه يوازې نه يم
ستايادسره شې لړې قافلې تيريږي

www.libtool.com.cn

□

لوخـــــــره ،لمبــــــــه ،ســـــــره اورونـه دي وي
رنـــــي رنــــي اوښـــــكـــــي دړدونــــه دي وي
هرخـــــيــــــز رانـه يوسئ پـه كـــــارمـــــي نـه دي
كـم بـخـــــتـــــو دمــــــيـنـي يـادونـه دي وي
ضــــــرورخـــــه نـه ده دشـــــرابـو كــــاســــه
دزهـرو دي وي خـــــوجــــــامــــــونـه دي وي
خندا كـــــه شـــوه قـــات ،نـوخنداوركـــه شـــه
زړلـى خــــوشـــــــي ســـــــره ويرونـه دي وي
كـــه مـــينـه تالاشـــوه اوخــتـــمـــه قـــيـصـــه
بـيـلـتــــــون خــــودي وي تـالانـونـه دي وي
ډنـډرلـوغـــــــړن ،پـانـه پـانـه شـــــــوه تـوى
زولـونـه ،ســـــيـلـى ،جـــــپــــــړونـه دي وي
دنـيـــاخـــويـه مـــائـــوانـېـــمـــرگ لـري ياد
پـه دارمــــــــــــي دويـنـو ډنـډونـه دي وي

www.libtool.com.cn

□

ستـــــرې دې يروشـــوگـــيـــرو اود شـــوه
څــــه پـه تـرتـکـو ،اســـويـلـو اوده شـــوه
سخ يـې لاهـغـــــــســــــې پـه اوښـکـولـونـډ دی
څــانـگـه پـه منـځ کـــښـــې دسلگو اوده شـــوه
پـه تـش تـورکـټ يـې پـه بـازو ايـښـی ســـــر
دخـــــپـلـي مــــيـنـې پـه ايرو اوده شـــــوه
پـه مخ يې هـغــــســــې زعــــفــران خـــواره دي
اُف !چې لـډ کــــومـــې انـديښنو اوده شـــود ؟
ســـريـې ســـرتورلوپټـــه ښکـتـــه زانگـي
څنگ ســيـــادلـه نن خـــاروا وده شـــوه
بې کـــوره ســاه کــــښـــې يې چرې غـــرېـرې
اوده شـــوه څــــانـگـه پـه*چاپـواوده شـــوه
*غني

www.libtool.com.cn

نه شولې خوږې مې په هیچا سترګې

ګورمه چا پیره څه بلا سترګې

ما خو ستا په مینه چا ته نه کتل

ما ته غوړیدلې څه دنیا سترګې

داڅنګه بدلې په اسانه شوې

ما وې نه بدلیږي چرې دا سترګې

نورې پښتنې به لټوم څله

بس دې! اخرې دې وې دا ستا سترګې

پوهه مې دمینې په پایاو نه شوې

ودې نه لیدلې ښې زما سترګې

www.libtool.com.cn

□

نه به خــــانديږ ولـې د خنداســـــره جـــورېږي

زه کـه شـومـه خاورې خـيـردى ته خـوښـيـرازېږي

ســتـــاليـــونى مـــينې ته چې کله مــې کــتلونه

مـاوې کـه جداشـوې خداى خـبـر کـه وپاييـږي

مــــابه باورځله پښـــتنې باندې دننګ کـــاوه

زه کـه وى خبرچې سرې جوړې ته خوشحاليږي

ګـــتـــې ديوالونه به پيـــغـــوږپيـــغـــورنارې وهـي

ته چې په زړوکـــوځـــوکـــښـــې بيــا کله تيــريږي

ته به په کـوم مخ باندې زمـا په کـوځـه بيـا راځـې

ته به دې دځـــپلو ناکـــړدونه نه شـــرمـــيـــږې ؟

تاخــــوزه وژلى يم تبــــى دې پورې کـــړې دي

اوس به مـې دشـوم له وريجـو ځله روسـتـوکـيـږي

www.libtool.com.cn

□

ستــــــرگــــي اوس نـوري غــــړولی نـه شم
داتماشــــــــي نـوري زغــــــــملی نـه شم
داخـــــــه دلـړزاودنـاکـــــــام ژونـد دی
زړگـی مـــــــــي ژاړي خــــــــوژړلی نـه شم
چیـــــرتـه ناخـــاپـه بـه ستـــــا نـوم واخلمــه
دویـري حـــــــــــال چـاتـه ویـلـی نـه شم
مـــــالـه دادوه شــــــونډي ګـنډلي ښــــــي دي
تابـه عـــــالـم کـــښـي شــــرمــــولی نه شم
ځـــانګـي تـه ځـــوک دي پـه رمـــــوز ووایي
چـــي زه یـــي نــوره یــادولـــی نــــه شــم
دومـــره مـــجـــال زمـــا دزړه نه شـــتـــه دی
پــښـــــتـنه بـلـه ازمـــــــــیلی نه شم
مـــاتـه زړي قـــیـــصـــي ځـــوک مـــه یادوئ
نـــوري دزړه ویـــنـي ګــــــــــوتلی نـه شم

www.libtool.com.cn

□

چادې درته ويلي چې برباد يمه

نه پښتني ! زه خوږېر آباد يمه

تا نه به زه ولې څه ګيله کوم

ستا د لاسه ډېر په زړګي ښاد يمه

دا اوښکې خو اوښکې څه دغم نه دي

دا خو هسې ژاړمه نامراد يمه

تا سره زما رشته به څه وي لا

ته دچرته زه د کوم هيواد يمه

داسې دي پرمخ څپېړه راکړله

کله خو په دې به دې هم ياد يمه

www.libtool.com.cn

□

ښکلې ښکلې ستر ګې ستر ګې ستر ګې ستر ګې

څنګ به او چتیږي زما ستر ګو ته ستا ستر ګې
تا خو خاورې کړې په خپل خیال دي زما ستر ګې
څمکې کښې وي ښخې چې پښتو يې شرمولې وي
نیغې برندې ګورې د پښتو دوفا ستر ګې
چالوظونه مات کړل ،څوک په پت دمینې خاورې شو
ګورې له چا پیره يې د ټولې دنیا ستر ګې
ستا ستر ګې د تندر په اوبو باندې وینځلې دي
ودې شرمولې دازما دحیا ستر ګې
دومره لیونۍ مینه به بیا چرې ونه وینې
ډیرې به دخوانه ووینې دبل چا ستر ګې
تارانجه په سرو ستر ګو کښې پورې کړل اولاړلې
وروستو څه خبرېږې په څه حال دي دچا ستر ګې

www.libtool.com.cn

□

تا ته چې نن گورمه نوسترگې مې ړندېږي
ما ته هغه تيرې ورځې مخکښې مخکښې کيږي
ستا په دواړو سترگو کښې دنيا زما دمينې وه
نن چې ورته گورم بيگا نه په مالگيږي
ساه دخوشحالۍ نه مې خته چې ته به راغللې
نن په رپندی يمه زړگی مې تول دوړيږي
ډيرځه دويلو دي خوهيڅ ويلی نه شمه
داسې هوا گيريم چې مې ژبه نه غړيږي
ستا په مخ گړدونه دي زما سترگې دُړجنې دي
ما ته ستا په مخ زما خالونه نه ښکاريږي
دامنگولې ،دا اوربل او دا سترگې پردی شولې
ځه !ځانگې ورځه گنې زړگی مې نورډويږي

www.libtool.com.cn

□

دامــې پــه غـورږو کـښــې ښکاله خـوځـه آشنا وه
لکه په چم کښې لاس په خوله څوک تږخیدلي چې وي
داتربُتکیـــا دکـــوڅـــې دقـــدم نخـــښـــې دچا
لکه په زړه یې وي پښــې ایښــې اوڅـوک تلي چې وي
ددیوالـونو لـوندې گـــتـــې پـه رنځـــوکـکړې
چادزړې مـــینې کـــوڅـــو پورې ژړلي چې وي
داســــې ښکاریږي لکـه دلتـــه ودریدلي چې وه
دخـــپلې مـــینې شنو خـــزو ته یې کـــتلي چې وي
نرۍ نرۍ دوبې سلگۍ مې کړنگیدې غـوږو کـښـې
لکه پړمـــخـــې په پالنگ څـوک پریوتلي چې وي

www.libtool.com.cn

□

لاړه شه هزار ځلي خوږوند به نيمه خواکوي
هرڅه به دې خپل شي خوارمان به تل زماکوي
دا مينه اخلاص به په څلور کنجه ونه مومې
زه به چيرته نه يم ته به ما پسې ژړاکوي
خور به دې اوربل شي اونکريزې به دې پورې شي
پټ به له همزولو تپوسونه زما بيا کوي
داد سره سالو رنګ چې له سترګو نه دې لرې شي
زړه کښې به د تيرو ورځو څه ناڅه سوداکوي
نوم چيرته په پينډه کښې زما به چاا خستی وي
زړه به دې درزا کوي ،کاته به په غلاغلا کوي
خيال کښې دې زما سوې ځواني چې چيرته وګرځي
څنګه په بالښت به سرلګې څنګ به خنداکوي
واړه تيروختونه به ګريوان ته دې لاس واچوي
کله اراده د هيرولو چې زما کوي

www.libtool.com.cn

ماله داوښکو دي پيالي ساتلي

ولي ساقي ماله بل جام نه و

له رپندو شوندو څه ونه وتل

نن پرې دميني زور سلام نه و

په بنو اوښکې ځليدې څڅيدي

په ناغه ستر ګو کښي پيغام نه و

ستا په ورتلو خومي دنيا ورانه شوه

ستا په راتلو هم څه آرام نه و

ماچي بې اوښکو وي دوډۍ خوړلي

بخت کښي مي داسي يوماښام نه و

www.libtool.com.cn

□

څه داسې اخلاص پسې به تول عمر رندیږي
دا مینه یادی به په سکروټو به رغیږي
د که به ځولی دې زمانه د خوشحالی نه کړي
بیا به تیروختونو ته په شاګوري پسخیږي
زه به دې اوس ګورم چې د پښې کږې وږې نه شي
کله د زړي مینې کوڅو کښې چې تیریږي
دا د زمانې مینه ،زما مینه چې تول نه کړي
دامې دی باور چې په سروستر ګو به ژړیږي
دا ګیله به نه کړي چې مې سترګې درنه واړولې
کله د ژوند لاره کښې که ماسره مخ کیږي

www.libtool.com.cn

□

لاره دې خطا کړه ښکلې ښنګه راغلي
غله دزړګي وايه څله راغلي

چوپه خوله ګنډلي رخصت شوي وي
بيرته غلي غلي چپه راغلي

څه وپارولي چي مجبوره شوي
بيا ددي دنيا نه پته راغلي

ماخو پرزړګي باندي پښي ايښي وي
خاوري به اوس يوسي څه ته راغلي

داکور خودمي ادېره ده ستا
څانګي داپه کومه مخه راغلي

www.libtool.com.cn

□

ستا په اوښکو کښې غوځیږي زما مینه

درنجو سره خوریږي زما مینه

توري سترګې دې ورغلې په کوګالو

بې کفنه جوړښخیږي زما مینه

پانې پانې به ځولۍ کښې راډیرې شي

ستا پرمخ باندې زیږیږي زما مینه

لکه پاتې آخري سلګۍ دژوندوي

ستا په شونډو کښې پرږیږي زما مینه

لیت لګولی زماني دی لوپتې ته

زما ورانديې سرتوریږي زما مینه

www.libtool.com.cn

□

دابه ډيره ښه وای که مړه شوې وای
ستا کفن ،دمينې پړده شوې وای
يوځلي ژړلي به مې داسې وای
بيا چې له هرغمه دمه شوې وای
ياکه بيا ژوندۍ وای اوخوشحاله وای
زه چې بنده نه وای گټه شوې وای
ياخو چې ترمرگه مې ملگرې وای
ياچې له اول پستنه شوې وای
چابه ته له خپلې اړولې وای
ته که چرې لږه کلکه شوې وای
وينه به زما دې بيا ثتلې وای
ته خوبه يوځل پښتنه شوې وای

www.libtool.com.cn

زه په نصيبونو مات تندی يمه
دغه هم ده ډېره چې ژوندی يمه

تا سره مې ورځې تيرې کړې دي
سترګو کښې دچاخوبه ازغی يمه

ستا غمونو هرڅه نه وښکلی يم
وايي هرسړی څنګه سړی يمه

ستا له ياده څه وځي پوهيږمه
بيا دې هم يادوم ښه ليونی يمه

داسې څوک پردی خوراته وښيه
زه لکه چې خپلو کښې پردی يمه

خوښه دهواچې مې اوړي چيرته
زه دايروخاوريوډېرۍ يمه

□

لاس راله مه راوړه چې خوب وړی یم

زه د غمونو پیغلتوب وړی یم

زه نه دنیاونه یم تاوژلی

د خپلې مینې لیونتوب وړی یم

زه خپل زولن زخمونه نه ژاړمه

ستا د ناغوسترګو پړسوب وړی یم

د زمانې راله ځواب ښه راځي

خپلې حیا اوسړیتوب وړی یم

ستا په زړګي کښې چې بهڅه تیریدل

ستا سرې جوړې اوناویتوب وړی یم

خپلې تږوتې مې بیا راغونډې نه کړې

تا نه چې بیل شومه خړوب وړی یم

www.libtool.com.cn

□

درته یادیږي به زما خبري

واړه خبري د رښتیا خبري

ما ستا پر سر باندي زغملي څومره

په کلي کور کښي د هر چا خبري

زما خبري وې د کاني کرښي

نکریزو یووړي هغه ستا خبري

ستا هغه مینه ، لیونتوب د میني

اوس به وي ټولي ناآشنا خبري

چي ټوله ورځ به یي په طمع وې ته

چیرته به اوري اوس زما خبري

www.libtool.com.cn

□

زمـــانـه پس بـه دمـــحـــفل رنـگـونـه نـورووينـي
گـومـان مـي نـه شي چې بـه داخـونـدونـه نـورووينـي
تاخـوسـيـوازمـا دمـيـنـي نـورليـدلي څـه دي
ژاړې بـه هـلـه چې دوخت خـــويـونـه نـورووينـي
درتـه يادېږي بـه آخـرليـونـى سـتـرگـي زمـا
دژوند پـه لاره چې يـوځـو مـخـونـه نـورووينـي
دايـو څـواوښـكي درخـصـت خـوابـتـدا ده واړه
اوسـه ژونـدى تـه بـه څـو څـو گـېـزونـه نـورووينـي
په دېمحفل كښې خالي ځاى ته به بيا بيا گوري ته
زمـانـه ورو سـتـو بـه دزړه حـالـونـه نـور ووينـي
زمـا اخـلاص اومـيـنـه داشلوون ختـمـولى نـه شي
تـه پټ پـنـا بـه دگـوهر سـودونـه نـورووينـي

www.libtool.com.cn

□

خیږي شني لوخړې چیرته سوځي چنارونه
بوی د سویو غوښو دی وریتیږي اوربلونه
دالیونی کریکې تورانکه هسې نه وهي
چرته خوورانیږي د مین زړونو کورونه
دادنیا ورانیږي ولې نه؟ څه ته ولاړه ده؟
ګیتې لوټې پریوتل د مینې بورجلونه
دادزړه ترقا ده که دریمه نغاره د مرګ
څوک په سپین کفن کښې را انغاړي شنه خالونه
دالارې کوخې لکه ډورې د چادقبروي
ګرځي لا په دې کښې ساه ختلي ارمانونه
بیا به اخترانه شي نکریزې به خوشتې نه شي
څانګې د بڼ پریوتلې، وشلېدل تالونه
داستر ګې مې وباسئ اودا احساس مې ووژنئ
نه شمه زغملی وریتې غوښې کفنونه

www.libtool.com.cn

□

دا یوه شپه ده دې په غوغا تیره شي
څه په مستی څه په ګډا تیره شي
ژوند خولړلی دی په اوښکو واړه
دا درنګ ګړۍ دې په خندا تیره شي
څه په تیندکو په بُدرو نیپکو
دا دپیالو دې په کړنګا تیره شي
چې دزړګي تناکې کینې لړې
څه په بې خوده مشغولا تیره شي
دچا څیره چې مې دسترګو وځي
شپه په آرام یوه پرما تیره شي

www.libtool.com.cn

□

اې ساقي جامونه ګرنګوې څله
بیا مې په زړګي اوربلوې څله
ماله ژوندانه نه خیرونه موندہ
بیا مې ژوندانه ته لمسوې څله
بیا دې په کاره وښکي خندا وینم
بیا مې په سرواوښکو ژړوې څله
مانه خماري سترګې په دده کړه
ماته نوي مینه څنډوې څله
بیا به سر دلاندې ترې پریوتی یم
بیا په نوي تال مې خېژوې څله
دابه مې هم شي مات حیا به لاړه شي
غورزوکښېې بنګړي مې شنوې څله

www.libtool.com.cn

کړنګ دې د پیالو او شرابونو دی
ماله بس د زهرو څو ګوټونو دی
ژاړمه خو سود په ژړا نه کیږي
مړه مې بې کفنه ارمانونه دي
ته یې او نکریزې اخترونه دي
زه یم او د اوښکو سیلابونه دي
وخت به ستا تیریږي چې دې هیر کړمه
ماته په سلګو لا ستا یادونه دي
تا زما غمونه بیګانه کړلو
ما سره ستا هغه شان غمونه دي
غوږ څو چرته کیږده خلک څه وايي
هغسې تپاله زمونږ نومونه دي

www.libtool.com.cn

زما داوښکو څڅیدو وخت دی
چې د آشنا رخصتیدو وخت دی
ته په نکریزو اوښکې مه تویوه
ستا خو دا وخت د خندیدو وخت دی
ستا به پلو د کجاوې ترمه
که مې دزړه دورانیدو وخت دی
سترګې کړه وچې په خندا رانه ځه
لارې شوې دوې د بیلیدو وخت دی
پرده د مینې آخر ځل وساته
ستا داوربل د خوریدو وخت دی

www.libtool.com.cn

□

زهرمـــــي داســـــې په خندا ځـــــبلي دي
وايي عـــالم چې يې رښـــتـــيـــا ځـــبلي دي
چادزړه وينـي چاشــــــراب وګـــــــوتـل
چاپيــــــره ګــــورمــــه هرچاځــــبلي دي
زمــــا دســــرکــــاســــه يې دوه ډوله کــــړه
اوپکښـــــې وينې دې دنيــــا ځـــــبلي دي
په تيندکـــــو مــــې مــــلامت مـــــه وايئ
نن مــــې غــــمـــــونه دآشنا ځـــــبلي دي
نکريزې دومــــــره رنګيــــالی خــــونه وي
دايې دزړه وينې زمــــــا ځــــــبلي دي
زمــــا دژوند کـــاســـه نسکوره شــــه ده
واړه شـــــراب ترينه راپيـــــاځـــــبلي دي

www.libtool.com.cn

□

زه یمـــه راغلی اې ســـاقي په مـــیـــخـــانه
هیڅ مــې په کــارنه دي مــاکــړه مــاته پیــمــانه
اوښکو ته زمـا کـه په مـحـفل کـښـې کـتـی نه شئ
زهرراله راکـــړئ یوپیـــاله اوســـیـــوانه
زه دهرې پیـنـدې نه خـــپـل غـم یمـــه وښـکـلی
مـــــــاتـه بـرابـر دي آبـادي او ویـرانـه
زه په کـلـکـه هیـــچـــاتـه آشنا ویـلـی نه شم
مـــاته ټول مـــخـــونه دلتـــه لګي بیـګانه
ښنګه ده خـوشـــحـــاله په جـــامـــونو وریریوتې
ویني خـــپـلي ښـبـي خـــونه پوهیـــږي زمـــانه
چاپلیـکي ښنډوهه اوپاخـــیـــده روانه شــــوه
پاتې شــــوه په زړه دچا نیـــمـګړي افـــســـانه

www.libtool.com.cn

تاپه پیالو کښې ډوبولی شم
والله چې ښه دې هیرولی شم
ستا د سروسترګو کټورې دې نه وي
ځان په جامونو غولولی شم
ستا نه لیدو سره څه فرق راځي
زه توري ګټې ښکلولی شم
هغه به نوروي چې په زهرو به مري
زه یې په زهرو تیرولی شم
په لپولپو اوښکې ومې څښلې
اوس په سرو اوښکو کښې خندلی شم
دنیمه خوامینې عادت شومه زه
بغیرله تاهم پایېدلی شم

www.libtool.com.cn

□

مه مې لټوئ زه په جامونو کښې ورک شوی يم

زه دبې خودۍ لويو دښتونو کښې ورک شوی يم

ماته دمنزل په سرهيڅوک انتظار مه کوئ

زه دستړې لارې په گرډونو کښې ورک شوی يم

شگې چاڼوې راپسې خلمه له لاس وتی يم

زه په خړو خړو سيلابونو کښې ورک شوی يم

چا يوه لحظه لمبه ليدلې چاونه ليده

زه لکه دستورې آسمانونو کښې ورک شوی يم

پرې مې ږدئ چې سترگې مې همداسې پټې پټې وي

زه دخپلې مينې تيروختونو کښې ورک شوی يم

www.libtool.com.cn

□

زه خـــوليـــونى يمـــه په خـــورو نه پوهيـــږمــــه
کله بـه ژړلي مـــــــي وي کـلـه به خـنديـږمـــــه
تا تـه مـــې څـــه ويلي نه دي ته ځله پښـــه نيـــســـې
زه خـوگــوتي شــمـــارمـه دځـــان ســره گـــوريږمـه
مـابانديې زړه مـه سـوځوئ اوداړه مـه راکـوئ مـاتـه
زه بـه هـم پريوزم هم بـه خـــپلـه اوچتــــيـــــږمــــه
داښـکلي مـــخـــونه لبـــاسي دي لبـــاسي واړه
زه دديوالـه پـه توروگــتـــو مــشـــغـــوليـــږمـــه
دغـــه لـوپتـــي اوســره لاســـونه رانه لري کـــړئ
زه دهري مـــيني لـه اخـــلاصـــه نه ويريږمـــه

www.libtool.com.cn

□

ماته د محفل مړاوي دیوه لګي
ته له دې دنیا تولې خپه لګي
دا محفل چې ستا لکه محفل نه وي
ګوري لکه بُت اوده اوده لګي
ښکاري لکه کار چې دې په هیڅ نه وي
ګیر چاپیره هر څه نه مړه لګي
سیوری دې په مخ اوږدیږی د رنګ په درنګ
ته د ماز دیګر زیړه نقشه لګي
سترګو کښې دې سوې ایرې الوزي
بس دارملنونو هدیره لګي
مات لکه کنچلکو د بې ارزی چې شي
پاتې یې د لارویوه توته لګي
ستا په شان زما دنیا هم ورانه ده
ماته لکه ځان هسې خوږه لګي

www.libtool.com.cn

□

غم د ســـره واوښـــتــــه اوده اوده غـــــمـــونه شـــو
درد د کـــچـــه تیـــروته قـــلارمـــې پرهرونه شـــو
زوردزره اوبه شـــولو اوصـــبـــرمـــې تمام شـــولو
ستړي مې سوداشولهاوستړي مې خیـالونه شو
ژوندیوخوسلگۍ شوې هغه هم خپه مرۍ کښې شوې
ښخ مـې په نکریزو رنگیـالوکـښې ارمـانونه شــو
لرې نه کـتـل مـــې چې دېتیـک په تندي وخـتـــو
پاتېمــې په لاســو کــښـې دگلوغنچکونه شـــو
ماچې ستـاکـوځه کښې دبنگړودړې راتولې کړې
مـخې ته مې ستـاکړې وعـدې کړې لوظونه شـو
نه راځې اتبـارمـې پښتنه باندې اوس سـتـانه پس
مـاته دروغـژن داښکلي ښکلي تول مـخـونه شـو

www.libtool.com.cn

□

تیروختونه ما ته آوازونه راکوي
لا ږچې نه شي مخکښې قسمونه راکوي
په ذهن کښې مې بلې شي لمبې چې روستوګورم
سیخونه څوک راواخلي بیا داغونه راکوي
دڅټ نه مې چاپیره شي رنګینې لوپټې
بلې دسره څوک اشارتونه راکوي
یوه یوه کوځه اوهره لاره هریوچم
دتیرې مینې څه ناڅه یادونه راکويٓ
ټوټې بنګړي پراته دي په سینه دچا دقبر
څوک پورته شي په خیال کښې سره لاسونه راکوي
ستاسترګې راته وايي چې مې هیرې ګوزې نه کړې
دنیا وايي هیرويې، داروېونه راکوي

www.libtool.com.cn

□

ته که بې کینې بې بې کینې ته‌وله دنیا نه ده

تا سره تېرلې تل عمري څه لمن مانه ده

ډیرې داسې راغللې اوډیرې داسې لاړلې

ستا په شان په هیڅا مې ذره څه نیګړتیا نه ده

ستانه ښکلې ډیرې شته څوک بله به ملګرې کړم

دالیونی مینه مې پیرزو هډو په تانه ده

داسې ګومان مه کوه چې تا پسې به مړ شمه

دومره دخودوتې څه زما دالیونتیا نه ده

زه په جدایي به دې هیڅرې اوښکې توی نه کړم

مانه په بې ننګو پسې یوه اوښکه سیوانه ده

www.libtool.com.cn

□

تالکه داوښکو غورځولی یم
تازه دړدولی لړزولی یم
اوس په هره مینه ناویسایمه
زه چې یوې مینې ویرولی یم
بوی له هراخلاصه دلباس راځي
زه یوې اخلاص منې تیرباسلی یم
اوښکې یې آخر کښېې راپه غاړه کړې
ډیرو بهارونو غولولی یم
زه به دپردونه څه ګیله کوم
خپلې غمخورنې سوځولی یم
تاخو پښتووکړه اوماولیده
زه دې له غیرته ژړولی یم

www.libtool.com.cn

□

راغلمه په شاباندې اوستا کوڅه مې پرېښوده

ګوتې د زهرو تیر مې کړ اوستا قیصه مې پرېښوده

ما د قدمونو نښې ورانې ستا په چم کښې کړې

اور مې یو ځای وواژه بل ځای لمبه مې پرېښوده

ته میر من د خوښې یې چې زړه دې غواړي هلته ځه

ما د ستا په خوښه ستا د ژوند کجاوه پرېښوده

بیا به ستا کوڅې ته چرې رانشمه لاړلم

مات کچکول مې غونډ کړ لو اوستا اسره مې پرېښوده

ته خو د بل چاد پتکي ګل وې څه دې ژاړمه

قهر مې په شونډو کړ او ستا نامه مې پرېښوده

www.libtool.com.cn

□

مخ په بله مـــاړوه زه دومـــره ارمـــانجن نه یم
رنگ دې هسـې مـه بدلوزه وړی دې مـیـرمن نه یم
هسې په تلوتلو کښې مې نظر په تا پریوتی دی
نورمطلب ترې مـــاخله غـــرضي دې دلمن نه یم
ستانه وړاندې ډیرې مې په مخکښې تیرې شوې دې
ډیرې به وې ښکلې خـــود هیـــچـــا آرزومن نه یم
درنگ گـــړی لیـــده دې تـه په یوه زه به په بله ځم
تا پسـې به درشم ترکـوڅـې دومـره چینجن نه یم
یادو ،نه به ووځـې مـې چې مـا په لار لیـدلې وې
زه چاسـره لرې نه ځم دومـره غـرضـمن نه یم
زه دزړه کـمـزوری داسې نه یم چې بس مړشومه
جـمع دې خـــاطرکــه زه دزړه دلاس دړمن نه یم

www.libtool.com.cn

□

زړه چې مې ډوبيږي نووخاندمه

حال چې مې نوريږي نووخاندمه

راچې شي په خپلې بې وسۍ ژړا

ګريوې مې لونديږي نووخاندمه

څوک چې داونه وايي چې غمجن يمه

غم دې چې درنيږي نووخاندمه

آه! دچم ګاونډ دملامتې نه

خوږچې مې زياتيږي نووخاندمه

دادناخوالى خنداګوهره وي

خلک چې خنديږي نووخاندمه

www.libtool.com.cn

□

خواته مې نژدې شوه اسويلو سره
غوښو غوښو سترګو کښې شيبو سره
خدای خبر په زړه یې کومې لړې وې
پلکې یې ترلې وود پښو سره
تول پلوپه غاښو یې چیچلی و
مخ یې ولړلی دړنجوسره
لاس یې لګو وقدم یې اخستو
تولـه رپيدله انديښنوسره
اورد ککرۍ نه زما وخاته
لاس یې چې راتاوکه دسلګوسره
هیڅ راته یادنه دي اې ګوهره نور
دوارو په ژړاووسترګوسروسره

www.libtool.com.cn

خوشحالی مې د اختر په نصیب نه شته

په پلوسې کښې بانډه شلیدلی تال یم

دبیلتون په شنه لونگی ودوړیدلم

زما ژونده! دازه څه درنځوخال یم

دمابڼ په سردرومې تنده نه مري

زه په واوروکښېن ښخ تږی دوصال یم

دشپېلونو څوکې ټولې مې کنډو کړې

أف! په لاره دچامینې ته لیوال یم

دگودر په گټوا وښکې مې بهیږي

زه گوهروری دتیروو ختو خیال یم

www.libtool.com.cn

□

ډ کـــه پيـــاله راکـــه کـــه وي زهر کـــه شـــراب
ژوند شـــوداســـي پيـــتمې چې يې نه لرمـــه تاب
درنـګ ســاعت له دوري خـــوبـه کـــيني دفکرونو
ذهن مـــې پولۍ دی احـــســـاســـونه مـــې کـبـاب
هيـــرې به پرهرې مـــې شي هيـــرې به مـــې ځـمـريکې
لږ خـــوبـه قـــلارشي دادســـرواوښکوســـيـــلاب
دادنيـــابه واړه مـــې دســـتـــرګـــونه فناشي
غم به مـــې غلط شي ته به وګـــتـمـــې ثواب
ســـتـــرګـــې چې پرانزم خـــپله ورځـــه رايادېږي
مـاله خپل احـساس دی اوس په ويښـه لوی عذاب

www.libtool.com.cn

□

بیلتون چې راځي ،چې لاربیلیږي ،کاسې به دستر ګوپر مخ رابهیږي
سلګۍ په وښکو ،لونده پلوونه ،درانه قدمونه به ځنګ اوچتیږي
پرون وو آشنا ،اونن بیګانه ،داسوچ دبرداشت بهر دی بهر
نسکورې ډیری ،دخیال محلونه ------
یادونه زاړ ،دژونده خواږه ،دزړه هیرول دي خوځنګ هیرول
دخپلې ځوانۍ ،کول دي ویرونه ------
ښویدلی سالو ،سر توره اوربل ،ژوندۍ جنازه ده روانه په لار
داخوشې خوشیا ،او ورک منزلونه ------
نکریزې شوې توی ،رانجه شوې نور ،لړونه شلیدلي دمینې دتال
روان دي په شا ،مروراخترونه --------

www.libtool.com.cn

کړې وړې شبې وې چې ترما راغلې وه
کونتره سیلانۍ وه زول جپړ وهلې وه
غرقاولاړې بهېدلې اوغرقاوه اوګړزا وه
خوبیا هم لیونۍ خپله وعده ساتلې وه
لوندې خوشتې جامې وې ورسره ټولې انښتې
باران کښې لمبېدلې څانګه څومره ښکلې وه
برویښته یې شړوټ وو، اننګو پورې لیوشوي
ښایسته بشره یې واړه په رنجولړلې وه
وجودې یخ کنګل وخود مینې جوړ تازه کښې
لنبې په غرغنډووي واوره ټوله ویلې وه

www.libtool.com.cn

□

څه کومه زه د تولې دنیا خوښه
زما خوښه ده یوازې زما خوښه
د هر چا د نظر تول جدا جدا دی
د یو خوښه وي له بله جدا خوښه
چې زما خوښه وي زه د چا پروا کړم
هغه نه دې وي هیڅ چیرې د چا خوښه
دا دنیا به ی بله سیاله پیدا نه کړي
کومه سیاله پښتنه چې کړه ما خوښه
په ځوانۍ کښې به چې څه رنګې ښکاریږي
چې د لاروډ کوم څو ده زما خوښه

www.libtool.com.cn

د

داســــپ رنـګينـه جــــوثـه بـه چيــــرتـه وي
وي بـه ســـتـــا پـه شـــانې ښـــه بـه چيـــرتـه وي
ډيرې مـــې خـــوړې پـه ژونـدکـــښــې ولـيـــدې
داســــې ليــــونې خـــوږه بـه چيـــــرتـه وي
ډېرې ســــتـــــرګـــــې ويـنـم چې *نـوتې دي
داســــې دحــــيـــــاتـونـه بـه چيـــــرتـه وي
مـــاســـره شـــريـک دي تـومـــتـــونـه کـــړل
داســــې دپښــــتــــوپـخـــه بـه چيـــرتـه وي
ســـتــانـه پس دلارې مــې خـــوک ملـه مــه شـه
ســـتـــاپـه شـــانې نـره ملـه بـه چيـــرتـه وي
*چې نـونـه لـري ،بـې حـــــــيــــــــا

www.libtool.com.cn

□

ځان ته خودې خيال نه دی چې ته څنګه کتل کوې
دا *غربتې سترګې دې راړولې دي خوړل کوې
مابانديې دې مرګ راپورې نه دی چې به وژنې مې
ګوته هم څنډې راته ، غابښونه هم چيچل کوې
دا بروېښته دا ننګونه دې وانه وښتل
ډېرکه په مکيز مکيزپه شادسرڅنډل کوې
اورشه په تاپورې سورسالوزمادښمن شولې
مانه ښکلى مخ درابياولې پټول کوې
داغوټه لمنې اوس دمينې بيليدى نه شې
زه هم درپسې يم ، ته به څومره ځغليدل کوې
مابه څله سواله کاوه دشونډو ښکلوودرته
شونډې بوځوې راته ټوټونه نيغول کوې
*غټې ، دغرګي په شان

www.libtool.com.cn

□

په سترګوکښې مې پټه دچاغلاليدلې ده

ښه نښه مې پخه دليونتياليدلې ده

زه رنګ دمينې پيژنم دانښې دي دمينې

په مخ په پټېپټونې مې حياليدلې ده

څه داسې راته ګورې لکه مانه چې پوښتنه کړي

«زماسترګوکښې مينه وايه تاليدلې ده»

زماپه رنګ وهلې مخ به ښه وي پوهه شوې

داځکه په تندې يې مارناليدلې ده

دپيغلې هريوکس ته څه په شک اوويره ګورې

دسترګوپه دې جنګ کښې چيرته چاليدلې ده

www.libtool.com.cn

ماچې وکتل ئووارخطا شوله

پوهه نه زما په مدعا شوله

نه شم ویلی څه بلا پې وشوله

زیړه شوه بیا ټوله په رپا شوله

یخه اونری خوله پې راغلله

سرېې کړوټیټ لږه په سودا شوله

زه یې بیا دسترګونه ونه وتم

پینډې نه اوچته شوه یو خوا شوله

سترګې یې بلنې اوستونه وو

ووپې رسیدمه چې زما شوله

www.libtool.com.cn

□

پرې مې پرده دسروستر گونه څنبلوته
لرغوندې نن ستوني لوندولوته
شونډې دې سکروټې دې که سرې لنبې
گواښمه نن سورانگارپوکلوته
تودمې دخپل تن په تود *هواړ کښې کړه
څه حاجت لاسونوتودولوته
ستنادخوانۍورېم داسې مست کړمه
زړه مې دی ساقي پورې خندلوته
لاس راکړه اوتينگ مې دملاونيسه
پرې مې نه ږدې ځانگې غورځيدلوته
وايه چې دنيادغه دوه ستر گې دي
مه گوره دچابرندوکتلوته
*هغه تودوږم چې دوجودنه راپورته کيږي

www.libtool.com.cn

□

د دوا ړو ملګر تیـــــاده په خندابه ی تیـــــروو
کُنجي لا ســـونه ځـــوبه بې پروابه ی تیـــروو
داژوند یو څـــو لحظې دي او په مـــینه بیـــه شـــوې
زمـــا لیـــونی ځـــانګې په رښـــتیـــابه ی تیـــروو
زمـــا اوســـتـــا پلونه چې لنبـــې شي یا ګلونه
جـــوړه غـــاړه غـــتـــې په لیـــونتـــیـــابه ی تیـــروو
زمـــا د زمـــا یی پوله به ورانه کـــړوله منځـــه
د دووپه ځـــای د یوزړه په تړقـــابه ی تیـــروو
زمـــا اوســـتـــا د مـــینې چې نکلونه شي په کلو
د یوبل د مـــخـــونوپه رڼابه ی تیـــروو
غـــمـــونه به وي ګـــډاوا خـــتـــرونه به په ګـــډه
د یوبل د ســـرونوپه دعـــابه ی تیـــروو

www.libtool.com.cn

□

پریږده چې دې زلفې راخورې کړمه
دابې نوره شپې لږې خوږې کړمه
پریږده چې دې اوردشوندووا خلمه
بلې دنصیب خپلې ډیوې کړمه
سرې شرابې سترګې دې راخواته کړه
زه چې وږې سترګې پې مړې کړمه
لږدځوانۍ تود هواږراوبخښه
یخې شوګیرې چې پې تودې کړمه
خپلوکښې بانه چې الوول موشې
پریږده چې دې داسې رانژدې کړمه
اوښکوته مې ډب لونۍ مه ترږه
پریږده چې دزړه النبې سرې کړمه

www.libtool.com.cn

□

په ښکلو ښکلو سترګو کښې رابیا اخستی یم
له څمکې پورته شوی یم هوا اخستی یم
زړګی مې داسې تړاقي وایم ماتې یې پښتی کړې
په خود کښې ګورې نه یم څه بلا اخستی یم
داغورې ښویه لیچې راغورېږي چې په مینه
د ګلونو کوڅانګو جوړ په شا اخستی یم
جوړه لاسونه ی راکړل او د مینې لوزې وکړ
چا نرې پښتنې زه له دنیا اخستی یم

www.libtool.com.cn

□

ستا سلام د مینې رار سیبږي

څو مره پې زماسو دونه کیږي

ستالیکونه څوخو ئله لولمه

زړه مې په لوستلونه مړیږي

داتکی دخط دي یا که پاهي دي

زړه مې پې څه بنکلي تکوریږي

ستاتصویر مې مخې ته نیولی وي

څو مره پې غمونه غلطیږي

تاچې لاس راکړی په رخصت کښې وو

اوس یې هم تاوده په مالګیږي

وایم جوړې اوس دي څه ویلي دي

www.libtool.com.cn

ستاوینامې غوږوکښې ګړنګیږي
ته یې راسره چې چرته ناست یمه
فکردې زمانه نه بېلیږي
ګرځم داسې لاروبازارونوکښې
ماته لکه هیڅوک نه ښکاریږي
داسې مې په زړه باندې خوره یې ته
ځانته زماکله فکرکیږي

www.libtool.com.cn

مه منع کوه زمانه جام

اې ساقي زه هسې يم بدنام

خلکو مې په لپو وينې وڅښلې

ما باندې شراب دي وي حرام

سداوبيداري مې څه دخيرنه ده

دی په تيندکونو کښې آرام

پريږده چې په برق ليونی وخاندم

تيرنه شي په اوښکو دا ماښام

پيتې دغمونو زاره چاودی شو

څکه غلطوم ځانله پام

مړې کادشعور ديوې مې ووژنه

ژوندسره نورنه کيږی ناکام

www.libtool.com.cn

پاتې شه اومه څه لیلانن شپه
ماسره شوګیره کادانن شپه
داسې شپه په عمر کښې یوځلې وي
بیا به چرې رانه شي دانن شپه
داګورې وریځې وریدونکې دي
مه وزه بهر په خطانن شپه
واړه تیرې شپې لکه پردۍ چې وي
ده په رښتیا ستا اوزمانن شپه
بیا به درته نه وایم چې پاتې شه
مه غورځوخبره زمانن شپه
نن مې زړه څه بل شانې درزاکوي
مه ویریږه ما باندې اتباروکړه
کوزدې کا پرونی رابیا نن شپه

www.libtool.com.cn

تاسره مې ژبه ده چې ستايمه
ستا مينه مې ژوندی زه پې پايمه
دا د پټ پنا خبره نه ده څه
زه خويې په جار دنياته وايمه
تا باندې حيا زما راتوله ده
زه پښتون راوړی ستا حيايمه
ماته ډيرې سترګې راغوړيږي به
زه د ټولو سترګو بې پروايمه
وي زما خبره به هغه يوه
زه که مخامخ يا پښې شايمه
زه به يو پوتې چرې بدل نه شم
وينې به مې ټول عمر چې دايمه

www.libtool.com.cn

□

په زړه مې ليک دي درابيا خبري
دمې مينې څه بلها خبري
څه برندې نيغې دښو خبري
څه شرميدونکې دحيا خبري
لکه چې څنګه وه پخپله ښکلې
داسې يې ښکلې دوفا خبري
څومره پستې وې غوڅې سپينې خوږې
دخيالولې آرښتيا خبري
دغه مې زړه وچې هغې ونيوه
کله ځايېږي پې سيوا خبري
غوټۍ ګلونه سره برغ وريدل
چې هغې کړلې په خندا خبري

www.libtool.com.cn

□

داسالودسرچې دې ښويېدلی دی

خيال دې وايه ځانګې چرته تللی دی

دابېروېښته دادځوانۍ خمار

ماباندې خوتندرپريوتلی دی

هرڅه که مې وکړل واک کښې نه يمه

ځان نه مې ويسانن پاڅيدلی دی

وايم چې دزړه پورې مې ليوه کړای

دومره مې زړګی راپاريدلی دی

ټول وجود کښې ځغلي ربړکې مې

لاس دې راسره څه لګيدلی دی

شونډې مې په شونډوباندې وترکا

پيغلې نوراختيارمې ګړيدلی دی

www.libtool.com.cn

□

راکـــړه ســـره لاســـونه رابيـــانـن شـــپـــه
خـــومـــره ښـــايســـتـــه ده دنـيـــانـن شـــپـــه
مـــاخـــه پـه زاروکه خـــدايه غـــوښـــتـــې وه
خـــومـــره بـخـــتـــوره ده دانـن شـــپـــه
نـن چې دې پـه ســـره جـــوړه کـــښـــې وينمـــه
ووځي مـــې دعـــمـــرســـودانـن شـــپـــه
ســـتـــازمـــادمـنـخـــه ديـوال پـريـوتـه
ســـتـــازمـــايوه شـــوه دنـيـــا نـن شـــپـــه
پـريـږده پـه ځـــيـــرځـــيـــرچې درتـه وگـــورم
خـــومـــره لوى ارمـــان وزمـــانـن شـــپـــه
نـن مـــې ايلـه مـــيـنـې غـــيـــږه ډکـــه کـــړه
شـــوه مـــې روزي خـــپـلـه حـــيـــانـن شـــپـــه

www.libtool.com.cn

□

ثـــومـــره بنکلي شـــپـــه ده چي اوده نه شـــي

نـن مـــــودوه پـه دوه ده چـي اوده نـه شــــــي

نـن بـه هم دخـــوب لاثـــوک نـامــــه اخلي

نـن خـــوشـــوگـــیـــره ده چي اوده نـه شـــي

دادثـــوارلـســـمـــي ســپـــورمـــي وگـــوره

ثـــه بـلـهـــاخـــوره ده چي اوده نـه شـــي

نـن خـــویـه خـــبـــري ترســـحـــره کـــوو

لاخـــولـویه شـــپـــه ده چي اوده نـه شـــي

ســـرخـــوپـه اوره دي زمـــا ایـنـبـي دی

دامـــي وســـوســـه ده چي اوده نه شـــي

www.libtool.com.cn

□

خوري مې دچاسترګي بلاګانې
ګوري څه بې کچه ورانې ورانې
دابشره څه ځانله جدانقش دی
بله به لا وينمه داشانې
داسترګي چې کوموسترګو خوښې کړې
عمر کښې به نه شي بيا پښيمانې
ته چې راسره دلارملګرې شوې
لارې دژوندون شولې اسانې
وايم چې دځان پورې مې تهوکې کړې
زړه چې راته څه وايي ګرانې

www.libtool.com.cn

□

ماته ستا په سترګو کښې د مينې د نيا ښکاري
ستا د مخ اينه کښې هر څه خومره صفا ښکاري
هغه چې زه لولم ستا کتلونا کتلو کښې
ما ته پکښې ستا د زړه ګوتونه ليلا ښکاري
ترخ باندې چې ګورې په راتللو او په تللو کښې
ما ته ستا په چوپو شونډو تولې د نيا ښکاري
وګوره لږ ما ته چې دا زه درته څنګ ګورمه
تا ته به چې څنګه ورې سترګې زما ښکاري
ستا مخ ته چې ګورم دا ژوندون بيا خومره ښکلی دی
ستا د مخه خومره ګيرچا پيره ښکلا ښکاري
څارشم ښښتنې چې په ادب دې زما سترګې کړې
ډب راته اچولې ستا د سترګو حيا ښکاري

www.libtool.com.cn

ته يې بې غمه غم دې زه كومه

تا ته وزگار يمه نور څه كومه

وايي دې مينې ته كه بد څوك وايي

زه يې په جار كومه ښه كومه

په اماني دنيا كښې بس دوه سترگې

پاتې دا نوره دنيا څه كومه

زه به هغه كوم چې خوښه مې وي

زه د عالم خوښه نه كومه

زما پخه مونږ را بيا ده زما

هسې هر چيرته تله راتله كومه

www.libtool.com.cn

□

لرې لرې وتښتـه خـوبيـابه پـستنه راځـې
نن سـتـرګـې بدلې کـړه سبـابه په جـرګـه راځـې
اوس خـودرتـه مـينه زمـاهيڅ دپامـه نه ښکارې
بيابه کچکول کړې دواړه سترګې ماڅخه راځې
مـاد کـوڅـې ورڅـه پورې کـړې درپسې نه دی
دامـې دی باورچې تـه به بيـاپه دې کـوڅـه راځـې
نن خـود خـيـالونوپه نيلي دې هواګـيـره شـوې
وينم چې به څـمکې لـه سـبـا بنـه بنـه راځـې
لاړه شـه دالويه دنيـا ښـه مـړه خـواوګـوره
بيـرتـه به آخـرترې نه ښـه سـتـړې اومـړه راځـې
دومره مې باورپرخپلې پاکې ساکې مينې دی
ماتـه به په هرمـيدان کـښې هرځلې ته پړه راځـې

www.libtool.com.cn

□

گورم به داچې زمامينې ته ونه زيريږي
دې ليوني اخلاص ته بيا چيرې ونه پسخيږي
يوځلې خيال چې دې داراشي درنه بيل شومه زه
حال به دې گورم په سروستر گوچې ونه ژړيږي
چې ته ولاړه يې زه شاكړمه روان شم درنه
منم به هله چې پوته‍ى قدرې ونه لړزيږي
داسرې غوټۍ چې دې پرمخ وې غوړيدلې داسې
د تيروختونو په سوداسوداونه دوړيږي
چې زمانوم دې بيا په شونډويا ندې راهم نه شي
دخلكو بيله ځان سره چيرې ونه گوريږي
بيا دروازه چې نيمكښونه كړې زماليدوته
زماكتوسره چې ته‍وله ته ونه گړييږي
گورم به داچې بې زمانه پوره ورغيدې
زماكوڅې له چې بياراشې اوونه ښوييږي

www.libtool.com.cn

□

وایه چې دومره مینه چا کړې ده
لکه رابیا! تا سره ما کړې ده
دنیا وسونه په ما کړي دي خپل
خو ما خبره ورته ستا کړې ده
د تور، تومت، دخندنې به څه وایي
خو د څه کله ما پروا کړې ده
ما خپلې وینې دې سوځلې څانګې
او ستا په لارکښې مې رڼا کړې ده
زما چې لاس دې پورته شوی کله
تا ته په لپو مې دعا کړې ده
زما خبره وه یوه خبره
زیاد کا، چې بله چیرې ما کړې ده

www.libtool.com.cn

سترګې درابیا څه ښکلې سترګې دي
ځومره له حیانه ډکې سترګې دي
دا سترګې به بل چا ته ونه ګوري
دا د ننګیالی پښتنې سترګې دي
سترګې په ادب چې ورته ټیټې شي
دا د پرښتو ساتلې سترګې دي
بلې په هرپل راته ډیوې شولې
مل راسره بلې ډیوې سترګې دي
چیرته یې ساری چاپیره نه ښکاري
ماچې خوښې کړې کومې سترګې دي
سترګونه زما ولې شرمیږې ته
څانګې داخوهم دې خپلې سترګې دي

www.libtool.com.cn

□

ستاليونی مينې ځان ته کړی يم
ستا اوږدو فکرونو سګه کړی يم
مينې دې څه داسې رنګ راکړی دی
خلکو ته يې سم په نښه کړی يم
پښه زما په ځمکه باندې نه لګي
زه دې په وريځو باندې کړی يم
ستا سترګو تکور راله راکړی دی
دې ټولې دنيا چې خپه کړی يم
ستړی چې له خلکو نه درغلی يم
ستا خوږو خبرو دمه کړی يم

www.libtool.com.cn

□

که په څرګنده دې دنیا سره یم
خو په خیالونو کښې رابیا سره یم
مایوه لحظه له ځانه بیل مه ګڼه
زه په قدم له تا سره یم
دراز خبره مې یو تا سره ده
ناست که په پینډو د هر چا سره یم
نوره دنیا راته هیڅ شی نه ښکاري
زه عادت ستا د مخ رڼا سره یم
ستا دنامې سره ویښ شوی یمه
که اوده شوی ستا سودا سره یم
ستا په خندا کښې مې خندا در ګډه
زه ژړیدلی ستا ژړا سره یم
په ما په ژوند بدګوماني ونه کړې
زه به دا تول عمر هم تا سره یم

www.libtool.com.cn

□

زړه به تاڅخه وي مخکښې به مې پښې ځي
راسره به ستا د یاد لویې جوپې ځي
ستا په خوا کښې څه په مینه تیرې کړې
راسره به ښکلې ورځې ښکلې شپې ځي
په رخصت کښې د بنو په سرپیلې
راسره به ستا اخلاص بلې ډیوې ځي
زه ستا مینه اوس له چاشم پټولی
ستا رانجه مې څڅیدلې په اوږې ځي
داسې ځمه ستا د کور کوڅې نه ځانګې
لکه پښو کښې چې د دربو مې سُنبې ځي
تا ته وګورمه څنګ په غبرېدلو
نیغ مې سترګو کښې بیلتون لښې لښې ځي
ستا راکړی لوزمې ډاډهم مې تونښه ده
ګني څوک ژوندي دیار له چم کوڅې ځي

www.libtool.com.cn

نوک له وری نه څوک شوکولی نه شي
څانګې له تامې څوک بیلولی نه شي
مینه چې مینې ته ورغاړه ووځي
ورغلې غیبرې څوک خلاصولی نه شي
ستا ستر ګو ځیلې مې دي زړه کښې کړې
زړه کښې زرغونه څوک لړولی نه شي
ساهونه دوه چې سره یوشي نوبیا
څوک په اروېې جداکولی نه شي
داد یوبل په مخ راځوړند مخونه
څوک یې په بل لوري اړولی نه شي
ستامینې رنګ کړمه څه داسې رنګ کښې
چې سیوارنګ پې څوک خیژولی نه شي
اوس بې زما ستاپه لاسونو باندې
څانګې نکریزې څوک لګولی نه شي

www.libtool.com.cn

□

دادسپرلودغوړیدو ورځې دي

خانده رابیا دخندیدوورځې دي

دنولیدلوورځې تیرې شولې

اوس دارمان درژیدو ورځې دی

داداختر ودنکریزوشپې دي

دادتالونوتودیدوورځې دي

زمابه مینه اغیړلي ګرځه

دوړي غیبږي مړیدو ورځې دي

ددیدنونوقاطي ورځې لاړې

اوس له یوبل دتاویدوورځې دي

www.libtool.com.cn

□

ستـــرې شــو ګـــيـــرې دې راپه غـــاړه کـــړي
يخـــې يخـــې شـــپــې دې راپــه غـــاړه کـــړي
ستـــاخـــيـــالونه ريشم پـه خـــيـــالونو کـــنـــې
لـويـې تـنسـتـــــې دې راپـه غــــاړه کـــړي
زړه دی اوخـــورې خـــورې سکونـداري دي
داکـــومـــې کـــيـــســـې دې راپـه غـــاړه کـــړي
ستـاخـيـالـي وجـود پـه غـيـږکـښې نيـسـمـه
تـرې تـلـوســـې دې راپـه غـــاړه کـــړي
ستـــادخـــمـــاروســتـــر ګـــوپه ست شـــومـــه
ډکـــې پـيـــمـــانې دې راپه غـــاړه کـــړي
دې لـيـــونــــونـواوښـکـوتـه لاو ګــــــوره
داخـــه تماشـــې دې راپه غـــاړه کـــړي

www.libtool.com.cn

مینه که زما د هیرولو وي
بیا به دلته څه د یادولو وي
ته که هیرولی مې شې هیرمې کا
څوک به دې زما د بدلولو وي
ماته خو دنیا واړد تورتم شوله
ستا به څه د وخت د تیرولو وي
تا خو بې رخصته کېدو کړله
دابه لارد کېدې بیلولو وي
ستا غوندې پښې چې اومې وخېژي
چا باندې اتباربه د کولو وي
لږ زما پښتو غیرت ته وگوره
ما غوندې په دار د خېژولو وي

www.libtool.com.cn

ورځ مې په ژوندی چونه تیریږي
شپې مې په چاپوشو ګیره کیږي
داخه لیونتوب ویاکه مینه وه
زړه کښې مې بامبړې لابلیږي
هراخترچې راشي لادړدمن مې کړي
ماته ستا تهالونه رایادیږي
وینه زماني مې نښتي ځلي ده
ستادلاس نکریزي پې خوشتیږي
ستاپه چم کوخه کښې ښنګه ودریږم
پښې مې په سره ځمکه سوځیږي
وام چې داسپیري بلی مې وراني کړای
ستاچې ورنه سرنه اوچتیږي
ماته هله وایه سترګني وچې کړه
ستارانجه که سترګوکښې تینګیږي

www.libtool.com.cn

□

ډیرواوښــــــتل پارونــه اوس اوده شـــــه

نــورمـــــــه وهــه چرتـونــه اوس اوده شــــه

زاړه وخـــــتـــــونه بیـــاکلـه جـــاروځي

پـریبږده زاړه وخـــــتــــــونه اوس اوده شــــه

دچـاهــریــوارمـــــــــــان دی ریـــژیــدلــی

څــــه ژاړي ارمــــانونـه اوس اوده شــــه

غـــمـــونه دي کـــړه تول دي تول ډډې لاندې

نڅـــــوړکـــــړه پلوونه اوس اوده شــــه

بیــــانـه راځي چې لاړلو پـه مـــــخـــــه

تیـــــــې پردي یـادونـه اوس اوده شـــــه

www.libtool.com.cn

□

ولې زمانه تښتوي سترګې
خپلونه داسې اړوي سترګې
داهغه سترګې دي چې ته پې مريدې
نن ورته نه اوچتوي سترګې
خلک زما او ستا کيسې پېژني
څه شي که ته پې پټوي سترګې
ستا يو قصور دی چې وژلی دې يم
ايله پدې نه لګوي سترګې
اوښکې دې وچې شوې قلاره شولې
اوس غټې غټې تووي سترګې
زما د خيال د پښتني ماته
نورې به څومره کوزوي سترګې

www.libtool.com.cn

□

ستا غمونه ټول زما دي
ستا فکرونه ټول زما دي
که مي ساه دی که مي ژوند دی
زما خه دي واړه ستا دي
که رانجه دي که نکريزي
خطرونه د آشنا دي
ما د سرزړو کي وړي
شکرانو له د بابا دي
زما هرخه هرخه ته يي
نور هرخه رانه سيوا دي
په تا سترګي غړيدلي
له جهانه بي پروا دي
که کوخي دي سره لري
ولي زړونه خوا په خوا دي

www.libtool.com.cn

ماخويلي شوي ډيوي مړي کړلي
ځانته چارچاپيره مې تياري کړلي
تاته به اوس نه ګوري په بيرته بيا
خپلي جوړه سترګي مې ړندي کړلي
زهروکښي لښه دزهروختمه شوه
داسي مې کاسي خپلي ترخي کړلي
ستاخطونه ووينځل په اوښکو مې
وراني مې دميني کښيدي کړلي
نوردچا اخلاص باندي باورنه کړم
ته وې ډيره ماچې رانژدي کړلي
زهرراکول دې آخري غوړپ کښي
تلوکښي چې خبري دې خوږي کړلي
اوس که ته راځې اويا که نه راځې
ماخوستا په لورسترګي کږي کړلي

www.libtool.com.cn

دې رایادې دچا پیغلې رڼې اوښکې
سرې سکورټې وې که بلې لنبې اوښکې
زما لاره په ورو ورو تیاره کیدله
په بڼو دچا کتاروې ډیوې اوښکې
چې دمینې په خازوباندې یې توی کړې
هغه اوښکې به وې څومره درنې اوښکې
ما په شونډو یې دمخه انځولې
زما خدایه !چې وې څومره ترخې اوښکې
یوه کیسه دبې وسۍ یې اورولـه
چې له زیزموې ترزنې څورې اوښکې
مانه مخ دچا پنا کړو څپلو اوښکو
بیا شریکې بهیدلې تودې اوښکې

www.libtool.com.cn

□

ساقي اوس دې ستونه ليوني څه کوي
دا پيمنډې بنډارونه ليوني څه کوي
چې شونډې مې لوندې په لپه چونګ دي اوکه وچې
اوس دا خوشي غمون ليوني څه کوي
اوس ماته تورې ګتې اوبندیان دي برابر
دا سترګې، دا مخونه ليوني څه کوي
هيڅوک مې په پرهريوه لانبه ابتـه نه کـا
ليتې اوټکورونه ليوني څه کوي
زما دا اوتې بوتې که زغملی شئ نواورئ
دا ستا سولوی فکرونه ليوني څه کوي
زما خيري ګريوان پورې که خاندئ ښه وخاندئ
لمن او ګريوانونه ليوني څه کوي

www.libtool.com.cn

□

زه په مـيـدان نه وم بې اسـري رابيـا يوازې وه
زړه له چه به خـومـره ارمـانونه يې راغلي وي
لاس يې چې راكـښلو دنكريزو لگولونه
خـومـره به كنځل يې د پردو خـپلو خوړلي وي
اوريې چې په مـينه لگيـدلى په بـامـبـړوؤ
خلكونه به پټ يې په سلگو خـومـره ژړلي وي
وخت كـښې درخـصت به يې جړى كـراريدې چرته
مـړاوې اننگي به په رنجـو كـښـې يې لړلي وي
داچې تيـروتله په وروسـتي ځل په كـوځـه زمـا
خـومـره په ارمـان به يې كـوځـې پله كـتلي وي
وئ! هغـه لحظه! د خـپله شـرمـه او د ننگه نه
ټول زمـا خطونه چې په اوريې سـوځـولي وي


www.libtool.com.cn

□

ته خو مشالونه بلولی شې
ځانته دنیا ټوله پسخولی شې
ماسره به څه په اوږه وژاړې
هو ، سیوايي اوښکې تویولی شې
تانکریزې خپله خوشتې کړې دي
داوینې اوس څنګه پاکولی شې
زه به درنه ولې څه مانې کوم
ته دې رانه مخ هم اړولی شې
ماته به دې څه کړمه پاتې وي
بې زما هم ښه وخت تیرولی شې

www.libtool.com.cn

زړه خــــوږه دې ښــــه اوس لـګيـــــدلی وي
مــــااوس ښـــه په مـــينه هيـــرولی شـــې
تاتـه اجـــــازه ده هـره پـینڅه کــــښېـــــې
نـوم زمـــــــا پـه بـدو يـادولـی شــــــې
زه چې ســــتــــــا د مــــيـنـې نه وانـه وښـــتم
اوس هم خـــپلې ســتـــرګــې ښکلولی شـــې



www.libtool.com.cn

□

مــــــادمـــــــيـنـي لـوى گـنـاه چـي كــــــړى دى
خـلـك اوس گــــــــــــوريـږي اوزه غـلـى يـم
تـابـه پـه ژړازړ گـى ســــــــپـك كـــــــړى وي
زړه زمـــــــاورانـيــــــــــــږي اوزه غـلـى يـم
زه دي لمن ســــتـــــرگـــــوتـه نيـــــوى نـه شم
ســــــتــــــــارانجــــــه دوړيږى اوزه غلـى يـم
مــــاتـه پښـــــتـــــوهيـخ اجــــازه نـه راكــــوي
ســــــتـــــااوربـل خــــــوريـږي اوزه غـلـى يـم
كـــاش پـه مـــــخـــــه ښــــه مـــــي درتـه وويـلـى
لاره دي پــــيــلــيـــــــــــږى اوزه غـــلـــى يـم
ســــتـــــاحـــيـــــاپـه مـــابـاندي بـه گـــــرانـه وي
لاس چي دي خـــــلاصـــــيــــــږي اوزه غلـى يم
خلـك زمـــــاســـــتـــــا پـه هـكلـه خـــــه وايـي
واړه رارســــــــــــيـــــــــږي اوزه غـلـى يـم

www.libtool.com.cn

بیا را ترغاړه شو آشنا یادونه
پرېږدي مې نه وژني مې دا یادونه
د تصور سترګې مې لري لاړې
راوپارل یې څه بلها یادونه
ما خوزړګی خپل پوره کړی ښه ؤ
ماوې جوړنه راځي بیا ستا یادونه
ماوې چې ته نه یې نو یاد دې څه کړي
خوراشي ستانه شا په شا یادونه
راځي راځي نو په خندا به راځي
راکړي ژړا او ځي په شا یادونه
لاړې که بیلې شوې نو بیلې به وي
لاغیر په غیر دې زما ستا یادونه
تا که پردې کړل، زه یې څنګ وشړم
ماته دعا دې کوي ستا یادونه

www.libtool.com.cn

رابیا چې په زړو کوڅو تیریږي اوکنه
قدم قدم سره یې څه یادیږي اوکنه
کاته یې چې هغه اوتراوتراولیوني دي
چې چېل یې له ببرسره ښوییږي اوکنه
دالاریې ګټ پیرونه اودړې وې دچانخښې
دې نخښو ته چې ګوري نودوړیږي اوکنه
بانه به یې زیارت کړو اودیدن له به راتلله
چې اوس یې هم زیارت پله زړه کیږي اوکنه
نکریزواور نجوته ی هغه مینه شته که نه شته
په بڼ کښې داختر په تال زنګیږي اوکنه
چې ټوله دنیا ځي راځي اوزه یو په کښې نه یم
د کلي په کوڅو چې به ژړیږي اوکنه

www.libtool.com.cn

□

ماسترګوکښې داوښکوچقول زده کړي دي
په لپومې دسورانګارپکل زده کړي دي
دمات زړګي خنداچې دژړانه وي بتره
پرې مې دیارانو تیرباسل زده کړي دي
منمه دهغې چې یې په زهروا موخته کړم
په مامینو! مادزهروخښل زده کړي دي
که دارته خیژوي مې زمانه ، پروامې نه شته
ماهم په خپلووینولمبیدل زده کړي دي
که لاره دژوندون په هرقدم ازغي ازغي شوه
ماهم دلیونو په شاني تلل زده کړي دي
په ډیرې آشنایئ کښې لکه نه چې پیژنم دې
ستامخ ته مې رابیا داسې کتل زده کړي دي
داپیندې ،بنداړونه موآباداوسه عالمه
ماهم دځان سره مئلیس کول زده کړي دي

www.libtool.com.cn

□

اوردزړګي ژبه کـــوله اوريې ســـره لاســـونه وو

اوښکوکـــښې لړلي دوروســـتي ځل د يدنونه وو

داســـې راترغـــاړې شـــوه چې بيـــادبيليـــدونه وي

کـــريکې وې،سلګی وې ،رپندی ووا و ويرونه وو

ګګ شومه لل ګل شوم داحساس د يوې مې ګل شولې

أف!زمـــاپه مـــيني زمـــاربه قـــيـــامـــتـــونه وو

داســـې ښکاريده لکه دنيـــاچې لاړه ورانه شـــوه

ژوندپه ځنکدن و ،ودريدونکې يې نبـــضـــونه وو

زه د ګتې بُت شوم ،پښې مې ځمکې پورې ونښتې

لاړله پناشـــوه ،په شـــاپاتې يې تش پلونه وو

بيـــاهم زه ژوندی يم ،مـــاله هيڅ بلاونه شـــوله

مـــاويل ،دمـــرګـــيـــه جـــوړورتيـــرداګـــوزارونه وو

www.libtool.com.cn

هري څپي بلي ته سپارلی یم
داسي اباسین ته غورځیدلی یم
یوه لنبه وژمه بله ژبه کړي
داسي سروسکروتوته جتلی یم
داتندرونه بل لوري ته نه څوځي
زه يي په دي کلي کښبي لیدلی یم
خلک چي زیارت يي په ژوندوني کړي
زه دچا دميني هغه څلی یم
ماچاله پوتی خندا ورنه کړله
زه څومره سپيره اوکړیدلی یم
زه دخزانونوگیله نه کوم
زه په بهارونورژیدلی یم
راشه تورانکي په ماویروکړه
لرپاتي یم ډيرخه سوځیدلی یم

www.libtool.com.cn

داسې په ارمان اوبې وسې کتل
گورته جنازې لکه روانې دي
ستر گوته دې گورمه ویریږمه
تن په کښې داوښکولامبو گانې دي
ډک کلي په ما دې هدیره کړلو
گیرچاپیره توري بلاگانې دي
داکوڅې دمینې دپسرلو کوڅې
څومره شاړې شاړې دي اوورانې دي
ژوندد مینې څومره کړیدلي و
لارې دبیلتون اوس څومره گرانې دي
ته زمانه لرې که هرچیرته ځې
ځه درسره ملې دعاگانې دي
مه گوره زما اوښکو ته مه گوره
داهسې راغلې دي ناداني دي

www.libtool.com.cn

□

لا يې لنبې تيزې شي په اوښکو کښې
چا په ژړا او ور د زړه وژلی دی
زړه مې يوه زولنه نونکی شولو
اوس د لنبو پرهونه وتلی دی
مينې دې *چتونه کړه اروا راله
چټ دا روا کله چا ګنډلی دی
چا په هديرو مانې ودرولې دي
چا مړی دولی ته خيژولی دي
ګريوې مې اوس داسې ګارې ګيتې شوې
وخت د ګيندې نوارې يې نورتلی دي
ستا کته مهري به څه له ژاړمه
چا سره چا غم دلې ويشلی دی

*زخمونه

www.libtool.com.cn

□

کله شم هیرولی پرونی ورځې
پښوته راپریوتي زولنې ورځې
تاته چي آوازکله درکئ کنه
هغه ستادمیني لیونې ورځې
دومره تیره شوي لامړوده نه ده
ته چي تپوس وکړي کلنې ورځې
ستادميني چاپ پي لګیدلی دی
تاته څه رنګ ښکاري اوس پردې ورځې
نه دي کلي کور، نه دي خپلوي شوله
داسي به راتلې دبې ارزې ورځې
ستاخـوا ب به څه وي ته به څه وايي
کله خوبه وي دريښتيني ورځې
تامي دسيالي شمله راتیته کړه
دادي هغه ښکلي دسيالي ورځې

www.libtool.com.cn

□

رابیاڅله اوس بیامې په خیالونو کښې راځي
پرونی په مخ واچوي خوبونو کښې راځي
لنبې چې کیناستلې دي اوس پریږده چې سړې شي
چې لاړلې بیا څه له په یادونو کښې راځي
دالارې بیلې شوې به هیڅیرې یوځای نه شي
بیا څه له په هغو لاروچمونو کښې راځي
ستا رنګ او ستا بشره به بدل شوی وی بلها
زړو جامو کښې څه له، تیرو وختونو کښې راځي
د نورو خلکو ستر ګو کښې دې ستر ګی شی راوړاندی
دا څه له د پردو خلکو مخونو کښې راځي
زما لمنه پریږده چه ورځم په خپلی لاری
نور مخی له مې ولې ګټ پیرونو کښې راځي
زما زړه هدیره ده درپسې چې مړی نه شي
یوازې پرې خوشو کنډرونو کښې راځي

www.libtool.com.cn

□

یو ته مې خپله وې او ته مې هم دښمنه شولې
زما نه لرې، څومره لرې استوګنه شولې

زه خو د غم په ورځ پیدا یمه لږ زغم به وکړم
په تامې سود شي ډیره ښه شوه چې ښادمنه شولې

ستا خوځولې د خوشالونه زماني ډکه کړه
دا به ډیر بد کوي، که دې کښې هم غمجنه شولې

هغه د مینې زیړی رنګ چې دې په څه کړو بدل
داخنګ بیلتون و، چې پکښې ته سره بخونه شولې

ما له دا ډیره ده چې تا ته ملامته نه یم
د مینې لاره کښې آخر ته په بایلنه شولې

نه دې سلام راځي، او نه دې بیا ر یبار راغلی
رامعلومیږي ډیره ستړې په پوښتنه شولې

هر یو قدم مې په ګلونو منجرو لګیده
د ژوندون لارې! راته څه بلها ازغنه شولې

www.libtool.com.cn

□

مــا پــه قــلار پريږدئ، مــا د مــينې نـه تـوبـه کـړله

زهـر مـی ښــه و گــوټـل، لـه ژونـده مـی تـپـنـه و کــړله

بیــا بـه مــینـه نـه کــومـــه، دغــه رالـه ډيره وه

وو تـه ارمـــان مــې، خــپـلـه خــوامــې ښــه ســره کــړله

ماته دې نه سترگې څوک غوړئ، نه دې بنگړي شړنگي

مــا پـه گــوگل دننـه زړه د شــين کـــانـي تـوټـه کـــړله

مـاسـره څـوک مـه تړئ، مـا هر يو خـپل پردی کـړلو

خــولـه مــې و گـنډلـه. هيــره هره مــې نـامــه کـــړله

دې دنـيـــا لـه څـــه دي، مـــا څـــه بـدورسـره کـــړي دي

ځـــانـلـه مـــې پـخــپـلـه خــپلـه مــيـنـه اداره[1] کــــړله

هرســری څــپـولی پـې ترخـــپـلـه وســه ايـښـی دی

مــاتـه دی لـوی کـلـی راپـه ســر لـويـه چـاپـه کـــړله

داســې دې د کــړه رالـه کـــړې چې بـيـــا پـانـه څم

مـــا پـه خـطـايـي د چـالـمن تـه کـــه اســـره کـــړله

---

[1] ورانه

www.libtool.com.cn

دې نيمه خوا ژوند پورې خندا راځي
خولې له مې خبرې ناروا راځي
زه ځپـو وهلی چې ژوندی يمه
ځان پورې په بيا بيا حيرانتيا راځي
اوښکې مې په خط کښې ورليږلې وې
اوښکې راله بيرته د رابيا راځي
وايم هغه مينه وه که وشتې وې
کله کله داسې هم سودا راځي
ډيرو ښايسته وته چې غږ کوم
خولې له مې نامه تراوسه ستا راځي
ژوند سره مې جوړه جاړه کړېده
کله په ناخواله اوس خندا راځي

***

چې ژوندي ځانونه مړه کړي

هغوی کله را ژوندي بږي

www.libtool.com.cn

چې مرګې په ژوندون مړ کړي

هغوی هیڅکله نه مړیږي

یو د زه یم، په روزلو

مرګ له سر ځني اوریږي

که بیا رنګه دی شی پږی[1]

سور زه یم، نه رنګیږي

چې په څیر د خپل ځښتن وو

بې کالبوته به هستیږي

***

چې تش ساه اخلي نو مړه دي

مات په هر ډګر او پړه دي

ژوندي هغه چې په زغا ښت دي

او میړه غوندې په کړه دي

د ریښتیا و ننګه کړوني

---

۱ – وجود.

www.libtool.com.cn

□

ځـــان کــــه تومــــتـــــونه ته نيـــولې شــــي

مـــاســـره راځـــه مـــينه کـــولی شـــي

پيــــتـې کـــــه د غم او چتـــــولی شـــــي

شـــپــــې کـــه په ژړا شـــوګـــيـــرولی شـــي

ويـنـې کـــــه د زړه چرې ګـــــوتـلـی شــــــي

خلـکو ســـره تـوري کـــــه وهلی شـــــي

مـــا ســـره راځــــه مــــينه کـــولی شـــي

دا لاره پـه خـــــــــوکــــــــــو د چړوتـلـې

لاس راکـــــــــا پـدې لاره چې تـلـلـی شــــــــي

مـــا ســـره راځــــه مــــينه کـــولی شـــي

دې کـــښــــې د پښــــتـــو خـــبـــرې هم راځې

ښــــه ده چې پښــــتــــو دې تيـنګولی شــــي

مـــا ســـره راځــــه مــــينه کـــولی شـــي

www.libtool.com.cn

بیــــا دې ابا ســــینه ځــــــپـــې تیــــزې شــــوې

ځــــــه را ببــــــریږې او څــــــه تیـــــبرې شــــوې

نن د چا بیـــــــــــږی تـه دې ځــــــــــوالی دي

بیــــا گــــوره ځــــپــــیــــږې دې رانیـــغــــې شــــوې

نن دغـــــالغــــوتو ســـــتـــــرگــــې دې ورانې دي

بیـــــا د چا پوښــــتــــــی له ځــــمکی لیــــوې شــــوې

بیـــــــــــا دې کـــــــــــومې واز دنهــنگانودی

بیــــا د چادوېر خــــبـــــرې پیـــــښــــې شــــوې

بیــــــــــا دی په وښکو ځگونه وغـــــــورځـــــــول

بیـــا وایه ســـپــــیـــــری چې د چا مــــبنې شــــوې

www.libtool.com.cn

□

بیــا زمــا پـه لاره کــښې ګلونـه غــوړوې څــه له
بیــا تیـره ازغي مــې په پښتــو راښــخوې څـه له
مــینې ســره داســې پټ پتـونـې کــول ښــه نه دي
زړه مــې رغــوې څــه له او بیـــا يې ورانـوې څـه له
مــاله چې دټول عــمــر خندا خــوشـالي نه راوړې
شـــامـــدام ژړلوله پوتې مـــې خندوې څـــه له
پرې مې ږده ذرې درې زړګې چې خپل راټول کړمه
لندې باچاهۍ ته مــې د مــینې پســخوې څـه له
ته به لمن راکـښې زه به ننګ غــیـرت اخـســتې یم
مـا په جومـاتونو په حـجـرو کـښې شـرموې څه له
ته کـــرې ریبـــې او کله دا شـــې کله هغـــه شـــې
مـا په قـلار پریږده هیڅ بې هیڅ مـې تنګوې څـه له

www.libtool.com.cn

□

ستا د مینې لار کښې د ګلونو پړاوونه دي

کله مې سندرې په مړوند، کله رنګونه دي

هره یو لحظه ئکه نکریزو کښې رنګ شوې وي

ماته ستا کولاچې دا خواږه ښکلي وختونه دي

ستا د مخ په یاد کښې د سپوږمۍ په ګاونډ اوسمه

دالړۍ لړۍ جومپکې ستورې ستا چمونه دي

هره پلوشه ئکه چې ستا د مخ بخرې وي

هره یوه وږمه ستا د کمخو پاسته شړقونه دي

کله دې بنګړو ته اشارت کړې ئکه سترګو ته

چار چاپیره خومره چې نغمې دي ښایستونه دي

www.libtool.com.cn

## د واده په ماښام

د مینې غیرې له سبا راځه
راځه، زما ښکلې را بیا راځه
راځه په دواړه کړو شریک غمونه
زما د ټول عمر سودا راځه
لاس دې راوغوړو راځه په منځکښې
زما پښتو، زما حیا راځه
راځه چې ځانله یوه دنیا کړو جوړه
راځه لدې ټولې دنیا راځه
ژوندون نیمګړی دی بې تانه زما
زما د عمر نیمګړتیا راځه
راځه چې ماتې د بیلتون شي پولې
پرانستې غېږه په خندا راځه

www.libtool.com.cn

ډیوه په تمه تمه د خارو مې بلوله
ستا نه مې د یو سره نه تر بله کچ کوله
وې سترګې په درشل مې او غوږونه په ښکالو مې
په خیال کښې مې راکښله او له زړه مې جوختوله
چې لږ غوندې به کش شوما به وې چې دادی راغله
بیا خوله مې هر کلي د میلمنې ته جوړوله
یوه یوه شیبه لکه د غره هسې تورل وو
ګړۍ ګړۍ مې څه په شواخونو تیروله
راغلې هغه تل وه، بیا به ولې نه راتلله
هغې په عمر خود کښې لا د چا پروا کوله
خو... هغه خو مروره وه د کله مروره
دا زه وم لیونی چې د ناکام مې یادوله
تیاره وه شومه دمۀ او کوڅې وې تولې خوشې
هیڅوک د راتلونه وو بیا ډیوه مې بلوله

www.libtool.com.cn

□

ته چې راسره يې نوشپې ورځې خومره ښکلې دي
لاره کښې غونچکې د پسرلو مې غوړيدلې دي
ستا له مخه سور سالو دې ټول جهان اغوستی دي
هرې يوې شيبې په لاس نکريزې جوړ تپلې دي
هره يو لحظه به ولې ښکلې مې د ژوند نه وي
چرته پې ستا گوتې، چرته شونډې لگيدلې دي
مانه اماني دنيا ستا سترگو پنا کړې ده
ته به وايې ما زغو کښې مې ستا سترگې راختلې دي
ته به وايې رنگونه د بوډۍ د ټال دې نوستي دي
تاسره ښايسته خومره دا پينډې، دا محفلې دي
نه د شوگيرو جونې ختميږي، نه خيالونه دې
لويې تنستې دې راته مينې غوړولې دي


www.libtool.com.cn

□

اې د ژوندون غــمــه وایم اوس چې لیـونی شــولی
خــلاص مــې په یو ځلې د تېرتکونه زړګی شــولی
خوشو ځنګلونو کښې د ونهـه مې چرته جوړه کړای
پروت لکه ډکری غوندې ورو ورو پکښې لوګی شولی
ښــه په برک خندلی مــې د نیــا پورې هم ځان پورې
ســتــرګــو ته می بت د تورو ګــتهــو هر سړی شــولی
نه چې په ماښام نه په سباوې سد مې ورک شـولی
دا ســپـیــره جـهــان راته چاپیـره ترمګی شــولی
دا بلې بُتکی او چم کــوځـــې او ګـــودرونه دا
وران مــې د مــازغــونه ددې کلې هر یو شی شــولی
ښښې مې ازغـو سـورې سورې ریښې ریښې نمري

www.libtool.com.cn

ورک شوی په میرو باندې، بې نومه لاروی شولی
چغې او سورې وای راپسې او خندنې شپیلي
زه د هر یو لوري نه په گټو چې ویشتی شولی
نه چې مې خندا او نه شرنگا پسې مخ اړولی
نه مې بیا ښکلا او داسندرې پیژندی شولی



www.libtool.com.cn

□

زهر راته واچوه ساقي نور په جامګو کښېږي
شپه ډېره درنه شوه تیل وچیږي په ډیوو کښې
زه د پلوشو دنیا په ډاګه غور ځولی یم
پرېږده چې غوپه شم په سیندونو د تیارو کښې
نه مې هغه زړه دی، نه مې هغه ژوندی رنګه ده
څه له حسابوې مې یه عالمو په ژوندو کښې
نوم چې څوک د مینې راته اخلي نو خندا راځي
زه یم ایرې شوی، خلک څه ګوري ایرو کښې
کومه یوه خبره کوم یو کار زما د روغودی
دا بیله خبره، چې شمیر نه یم لیونو کښې
هلته د دېوالونه او بُتکی زما المن راکښېږي
ښنګ ادل بدل شم په زړو لارو کوڅو کښې
وینې زما واخلئ د بڼ ونې پې ښیرازې کړئ
څوک په تال ختلی خو یادی به مې جونو کښې

PROPERTY OF ACKU
7599
www.libtool.com.cn

پري مي ږده لمنه اوس به لاړه شم
مه کړه غابښ چيچنه اوس به لاړه شم
لږديدن او ډيرديدن هم هغه دی
نه شته مړيدنه اوس به لاړه شم
داکه زول جپړشه بيا به گرانه شي
ده خره چنه اوس به لاړه شم
ډيرايساريدل بده خبره ده
ده دنيا شکمنه اوس به لاړه شم
بيا به چيرته راشم چي خپه نه شي
غواړم اوس بخښنه اوس به لاړه شم
درنگ ساعت په خوندخوشحالي وواته
نوره بيا مئينه اوس به لاړه شم

www.libtool.com.cn

زه د آشنا ستر ګو بلا وخورم
چا ته فریاد وکړم چې چا وخورم
ډک مې دی زړه خوله پرانستلی نه شم
نصیبه زه خپلې حیا وخورم
ما به پخوا زړه وغوندکړی له تا
پښتنې ستا دغې وفا وخورم
زماله هیچا نه ګیله نه شته دی
خپله زړګیه! زه خو تا وخورم
غم مې دمینې ستا پرسرا وستر ګو
زه د پردو خپلو خندا وخورم
ستا دیادونو قافلې غونډوي
زه دسپوږمۍ ستورورنړا وخورم
رنګ به چې واخلي په نکریزو که نه
دزیړولاسو دې سودا وخورم

PROPERTY OF ARIC
Established 1989

www.libtool.com.cn

کچه لوظونه د هیریدو وي
کچه بنګړي خو د ماتیدو وي
دلاري منځ کښې چې آشنا پریږدي
داخه وفا وي داخه پښتو وي
یو په خنداوي مرادي سرشي
بل چې ژوندی وي په لمغړو وي
دمیني لاره تیره ترتوري
پوري وتل پري د لیونو وي
ماخو له تانه ګیله ونه کړه
وایي چې خپل وي ځای د ګیلو وي
دزړه په مینه ایساریدل شي
چې زړه یې ناخلي هغه دتلو وي
پوره له تانه چې نه شوه ښه شوه
چې ملامته ستا په اوږو وي

رجړومه د پښتو ژبې د مفکر فلسفي ليکوال او شاعر او غورځنګغيږي وياند ګوهر رحمن ګوهر د تاند زلميتوب د مينتو او ليونيو شيبو شاعري ده چې زموږ د ذوق سترګې د مينې په رنجو راتوروي. رجړومه د هغو شپو ورځو انځور ګره ده چې شاعر، دستور تليزو او پينې (کايناتو) د ناپايه سمندرونو پر ځای په دووښکليو سترګو کې خپله ورکه لټوله. دلته شاعر شپې او ورځې دخپل معشوق په رنجولړلې او ښکې ګنې او شفق په نکريزو سرې منګولې.

www.libtool.com.cn

دا کتاب د ګوهرصيب د وروستنيو کتابونو په څېر د ژورو فکرونو او فلسفو کړليچونه، نه لري. دلته د مينې فلسفې د ښکلا درک او احساس ته غيږه پرانيستی ده. «رجړومه» د مينې له سليماني رنجوڼکه ده چې د لوستونکو د نظر مخې ته يوه ورو کې خو ښايستو کې د نياګۍ راښنه کوي. داسې دنياګۍ چې د ښکلا شهزادګۍ يې د مينې پر تخت ناسته او يوه مهينه پاچهي يې جوړه کړې ده.

ګرانه لوستونکيه! که د روح په ګرنګوکې دې د اروابناد احمد خان دا سندره تاوه راتاوه شوې وي چې وايي:

مراوي دې په سترګو کې د مينې داډيوې مه شه
ستا خندنی سترګې په ژړا چيرې لوندې مه شه

نو دا ومنه چې د ګوهر د زړه غږ دی.

ګرانه لوستونکيه! که د کشور سلطانې له درده ډک د انځور او نرګسې آواز په جامو کې دې داسندره د زړه په کورګي کې ميلمنه شوې وي چې وايي:

زه د آشنا سترګو بلا وخورم    چاته فرياد وکړم چې چا و خورم

نو دا هم د ګوهر د زړه دسيپې يوه تانده مرغلره ده.

ناهيد کتاب خپرولو موسسه له ګران وروو اسدالله ساپي څخه يوه دنيا مننه کوي چې په «ډيوټ» پسې جوړختــه يې «رجړومــه» د ګـرانو لوستــونکو د نظر مخــې ته کينبوده.

په ډېره مينه او په ډېر ادب
پير محمد کاروان – 15.8.98 – پېښور

چاپ : دانش کتابخانه، ډهکی نعلبندی قصه خوانی